د افغانستان اســـلامی امارت

د لـــــــوړو زده کــــــړو وزارت

التقوا دلـــــوړو زده کـــــــړو مؤسسه

# ستراتېژيک پلان


۱۴۰۰ – ۱۴۰۴ لمریز کال

ترتیب : د ستراتیژیک پلان کمېټه

# د مطالبو فهرست

**د پلان مشخصات** ........ أ
**التقوی د لوړو زده کړو موسسې د رییس پیغام** ........ ب
**د التقوی دلوړوزدکړوموسسې لپاره استراتیژیک پلان چوکاټ** ........ ت
**مقدمه (کلیات)** ........ 5
**د التقوی د لوړو زده کړو خصوصي موسسې پېژندنه** ........ 6
**د مؤسسې لرلید (Vission)** ........ 9
**د مؤسسې ماموریت(Mission)** ........ 9
**د مؤسسې ارزښتونه (Values)** ........ 9
د موسسې تشکیلاتي چارت ........ 10
**دوهم فصل** ........ 11
**د چاپیریالي عواملو مطالعه او د ستراتیژیکو پروګرامونو لومړیتوب** ........ 11
**لومړی مبحث: د چاپیریالي عوامو مطالعه** ........ 11
**لومړی: د داخلي محیطي عواملو تحلیل** ........ 11
**دوهم: د خارجي (بهرنیو)عواملو تحلیل** ........ 13
**د داخلي او بهرنیو عواملو مقایسه او نهایي نمرې** ........ 14
د داخلي او بهرنیو عواملو نهایي نمرې **MATRIX EXTERAL & INTERNAL** ........ 14
**د مؤسسې ستراتیژۍ** ........ 16
دستراتېژیو د لومړیتوبونو ټاکنه د متریکس په اساس QSPM) ........ 17
**دریم فصل** ........ 18
**د ستراتیژیک پلان پنځه کوني برخې** ........ 18
**لومړی مبحث: معلوماتي ټکنالوژي** ........ 18
**دوهم مبحث: څېړنه** ........ 21
**دریم مبحث: عواید** ........ 22
**څلورم مبحث: نړیوال فعالیتونه** ........ 26
**څلورم فصل** ........ 29

ښه حکومت ولي، رهبري، مالي و اداري او زیربناوې........ 29
لومړی مبحث: ښه حکومتولي........ 29
دوهم مبحث: رهبري........ 31
دریيم محبث: مالي او اداري........ 31
څلورم مبحث: زیربناوې........ 32
پنځم فصل........ 34
علمي برنامې او لوړو زده کړو ته لاس رسی........ 34
لومړی مبحث: علمي برنامې........ 34
دوهم محبث: لوړو زده کړو ته د وکړو لاسرسی:........ 37
شپږم فصل........ 39
د مؤسسې ستراتیژیکې موخې........ 39
د استراتېژیک پلان د پلي کېدا کلنی عملیاتي پلان (۱۴۰۰-۱۴۰۴هـ ش)........ 43
د بودیجې ټاکنه........ 55
د ستراتېژۍ تطبیق........ 58
د استراتېژۍ ارزیابي........ 59


بسم الله الرحمن الرحیم

# د پلان مشخصات

عنوان: التقوی د لوړوزده کړو مؤسسې ستراتېژیک پلان

د تطبیق میعاد: (۱۴۰۰- ۱۴۰۴ل) **کالونه**

تدوین: (۱۳۹۹ ل) کال

د صفحو تعداد: (۷۲) صفحې

تائیدي: د مؤسسې علمي شورې په (۵) (۱۳۹۹/۸/۶) ګڼه فوق العاده جلسه کې د رایو په اتفاق تائید شو

نشر کال: (۱۳۹۹ ل) کال

نشر ویب سایت:

## د مؤسسې ستراتېژیک پلان اصلي کمېټې اعضاء

| ګڼه | نوم او تخلص | تحصیل درجه | مؤسسه کې دنده | کمیټه کې دنده |
|---|---|---|---|---|
| 1 | خوشحال جواد | ماستر | د مؤسسې رییس | رییس |
| 2 | ننګیالی مصؤن | ماستر | استاد | منشي |
| 3 | سید اسرار صمیم | ماستر | استاد | غړی |
| 4 | محمد سلیم یعقوبي | ماستر | استاد | غړی |
| 5 | | | | |
| 6 | | | | |
| 7 | | | | |

## التقوی د لوړو زده کړو موسسې د رییس پیغام



د لوړو زده کړو علمي کورنۍ ګړوته سلام او درناوی!

ډېر زیات د خوښۍ احساس کوم، چې له تاسې درنو سره د التقوی لوړو زده کړو موسسې پنځه کلن ستراتېژیک پلان شریکوم، دغه پلان د راتلونکو پنځو کلونو( ۱۴۰۰- ۱۴۰۴) لپاره ترتیب او تدوین شوی دی.

د انسان په شخصي ژوند او په تېره دیوې اداري لپاره پلان خورا ارزښتمن او مهم دی.

بې پلانه کار هغه سفر ته ورته دی، ، چې منزل یې معلوم نه وي، څکه وایي څوک، چې په پلان جوړولو کې ناکامېږي هغه دخپل ځان ناکامي پلان کوي ( Fail to plan is Planning to fail) پلان او په تېره ستراتېژیک پلان د ټولو ادارو لپاره خورا ډېر مهم دی، د علمي ادارو او پوهنتونو لپاره بیا تر ټولو زیات د اهمیت وړ دی.

په همدې اساس التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه، چې د لوړو زده کړو په ډګر کې یوه با تجربه مؤسسه ده ستراتېژیک پلان ته په ډېر زیات اهمیت قایله ده، دغه ستراتېژیک پلان به التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په موثره، مثمره، علمي او عملي توګه په هر اړخیز ډول رهبري کړي، دغه پلان به یاده مؤسسه د ټاکلو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره په موثر ډول مرستندویه واقع شي.

التقوی د لوړو زده کړو موسسې ستراتېژیک پلان د ټولو دخیلو اړخونو د نظریاتو په رڼا کې دیوې پراخې څېړنې په پایله کې په ګډه توګه جوړ شوی، د یادې موسسې ستراتېژیک پلان ګڼې او بېلابېلې برخې لري، چې په لویه کې له پنځو برخو جوړ شوی دی:

۱- مالي سر چینې
۲- څېړنه
۳- په ټولنه کې ونډه
۴- په ملي او نړیواله کچه هوکړه لیکونه
۵- معلوماتي ټکنالوژۍ کارونه

په سیمه او نړۍ کې د علمي او ټکنالوژیکي بدلونو په نظر کې نیولو سره د لوړو زده کړو موسسود پیاوړتیا او کمزورۍ ټکي، فرصتونه او ننګونې خورا مهم دي، د پوورته یادو ټکو په نښه کول له پوهنتون سره مرسته کوي، چې شته فرصتونو څخه لازمه ګټه واخلي، خپل پیاوړي ټکي لا نور پیاوړي کړي، شته ننګونې له منځه یوسي او په فرصتونو یې بدلې کړي.

التقوی د لوړو زده کړو موسسې ستراتېژیک اهداف د یو ځانګړي علمي او عملي میکانیزم له لارې د غوره رهبرۍ، ښه مدیریت، مناسبې حکومتولۍ رامنځ ته کول، د محصلینو په ملي او اسلامي روحیه روزل او یادو ارزښتونو ته وده ورکول، محصلان په معاصرو علومو او مهارتونو په داسې توګه روزل، چې دکار په بازار کې په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه سالم رقابت وکړای شي، په محصلینو کې د انتقادي، تحلیلي او تخلیقي فکر روزل ، څو په سالم ډول په ټولنه کې راڅرګند شي او په هر اړخیزه توګه د افغاني ټولنې ستونزې اوارې او د کادرونو روزلو په برخه کې موجوده تشه په سمه او مناسبه توګه ډکه کاندي.

په پای کې زه د التقوی د لوړو زده کړو موسسې له ژمن او فعال کاري ټیم څخه مننه کوم، ، چې په پوره ایمانداری او ریښتینولۍ یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي او د التقوی علمي کاروان یې تر دې ځایه رارسولی او لاد پرمختیا او پراختیا پر لور ګامونه اخلي او ددې ستراتېژیک پلان جوګه شوی.

زما وروستۍ هیله دا ده، چې د التقوی د لوړو زده کړو موسسې ژمن کاري ټیم په پوره ژمنتیا او په ګډه سره خپلو ټاکلو اهدافو ته ورسوي او ددې ستراتېژیک پلان ټول تعهدات او مفردات په غوره او ګټوره توګه عملي کاندي.

**ستاسې او د التقوی د لا ځلېدا او پرمختیا په هیله .**

**استاد خوشحال جواد**

**التقوی د لوړو زده کړو موسسې رییس**

# د التقوی دلوړوزدکړوموسسې لپاره استراتیژیک پلان چوکاټ

## د ستراتېژیک پلان د جوړولو مراحل

مقدمه: دالتقوي دلوړوزدکړو موسسې پېژندنه، د دموسسې کړنې اوفعالیتونه، د موسسې پخوانۍ ستراتیژیانې

د لیدلوري ټاکل، د ماموریت ټاکل، د ارزښتونو ټاکل، د استراتېژیک اهدافو ټاکل

د محیطي عواملو مطالعه او د لوړوزده کړو وزارت د ستراتېژیکو پروګرامونو لومړیتوب

دجوړښت مرحله

محیطي عوامل (داخلي او خارجي) قوتونه، کمزوریانې، فرصتونه او ننګونې

د لوړوزده کړو وزارت لومړیتوبونه: حکومتولي، علمي او اکاډمیک، لوړوزده کړو ته لاس رسی، زیربناوي

د ممکنه ستراتېژیانو ټاکنه:
د سترتېژیانولومړیتوب ټاکنه:
د ستراتېژیک لومړیتوب ټاکنه:
د لنډمهاله موخو ټاکنه:

داجرا مرحله

د کلنۍ برنامې فعالت، د بودیجې جوړونه، مالي پروګرامونه، دخطراتو مدیریت د پوهنتون لپاره درهبرۍ دطریقې ټاکنه ، د پوهنتون د رهبرۍ سبک د اجرایوي پالېسیو جوړول.ټاکنه، د منابعو تخصیص

دارزیابۍ مرحله

دستراتېژیکو پروګرامونوڅارنه او ارزونه

## مقدمه (کلیات)

تحصیلي بنسټونه د ټولنې د پرمختګ موخه تعقیبوي، چې د څېړنیزو، تدریسي او خدماتي فعالیتونو د ترسره کولو او ټولنې ته د علمي کادرونو د وړاندې کولو له لارې دغې مطلوبې موخې ته ځان رسوي، ولې یاد فعالیتونه هغه مهال په ګټوره او اغېزناکه توګه ترسره کېدای شي، چې د لوړو زده کړو محترم وزارت د لایحو او معیارونو پر اساس ترسره شي، په ځانګړې توګه د تضمین کیفیت معیارونو بشپړول، چې د تحصیلي بنسټ د کیفیت د لوړېدو سبب کېږي، نو دې برخې ته باید جدي پاملرنه وشي ځکه، چې په دې سره د تحصیلي بنسټونو ترمنځ سالم رقابت رامنځته کېږي او د سالم رقابت په پایله کې تحصیلي بنسټ د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېږي. هېره دې نه وي ، چې د هر تحصیلي بنسټ د چارو د ښه سمون او پرمختګ لپاره مخکې له مخکې جوړ شوي پلانونه حیاتي ارزښت لري دغه راز ښې پلان شوې او اغېزناکه سرچینې له وړاندې څخه په ښه شویو موخو په غوره ډول تر لاسه کولو لپاره پرېکنده ارزښت لري .التقوی د لوړو زه کړو مؤسسه ، چې (۱۳۹۰ل) کال کې د لوړو زده کړو محترم وزارت سره د یوه تحصیلي بنسټ په توګه په (۵۵) ګڼه ثبت او راجستر شوې ده، دادی د پنځو نورو کلونو لپاره یې ستراتېژیک پلان ترتیب او تدوین کړی دی. التقوی د لوړو زه کړو موسسې په دې ستراتېژیک پلان کې د خپل لرلید په نظر کې نیولو سره لوړ اهداف ټاکلي،چې پلي کېدا سره به یې د تحصیلي معیارونو په اساس د ټولنې پرمختګ کې کار وشي.موږ د خپل مسلکي اداري او علمي ټیم پر کار او زیار باوري یو،چې شته موخې به د پلان اړوندېه ښه توګه ترلاسه کړي .دا ستراتېژیک پلان د لوړو زده کړو محترم وزارت د ستراتېژیک پلان په رڼا کې د ټولنې د غوښتنو مطابق د نصاب تجدید نظر ، علمي څېړنو، معلوماتي تکنالوژۍ، د موسسې تضمین کیفیت ، د تشکلاتو پراختیا ، د علمي او پلي کېدا برخو اسانتیاوې، د ملکېتونو پراختیا او د ملي او نړیوالو اړیکو د پراختیا پر برخو لرونکېدی .پورته موارد د ستراتېژیک پلان د لویو اهدافو برخه ده، چې په داخلي عواملو کې د پیاوړتیا او کمزورتیا بهرنیو عواملو کې فرصت او ننګونو په تشخیص او تحلیل سره معلوم شوي چې موږ ، چېرته قرار لرو؟ او غواړو چېرته ورسېږو؟، هیله ده د الله تعالی په مرسته به په دې پلان کې د یادو شوو مهمو موخو په ترلاسه کولو کې بریالي شو.

# لومړی فصل

## د التقوی د لوړو زده کړو خصوصي موسسې پېژندنه

زمونږ لرغونی او ګران هېواد د علم، پوهې او نامتو عالمانو د لرلو له مخې یو پېژندل شوی هېواد و، چې د وخت په تېرېدو سره یې لاپسې د علم په برخه کې پرمختګونه وکړل، هماغه و، چې د لومړي ځل لپاره په (۱۳۱۱ ل) کال کې د ترکیې هېواد په مرسته د طب پوهنځی تاسیس شو او په هغه وخت کې د (دارالفنون) په نوم یادېده. تر دې وروسته، زمونږ په هېواد کې نور پوهنځي او دارالعلومونه هم رامنځ ته شول او په دې لاره کې ښه پرمختګونه وشول، خو له بده مرغه څو لسیزو جنګونو زمونږ د هېوادوالو د ژوند ټولو اړخونو ته زیات تاوانونه واړول، چې په دې موده کې موږ یو شمېر علمي او اکاډمیک کادرونه مو له لاسه ورکړل؛ دا دي ګورو، چې نن ورځ ګران هېواد د علمي کادرونو له خلا سره مخ دی، نو په همدې بنسټ، د یادې خلا د ډکولو په موخه التقوی د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه د خپلو ستراتېژیکو موخو په لرلو سره د په دې لړ کې په کار بوخته ده او هڅه کوي ،څو دغه خلا ډکه شي.

د علم او پوهې سره د ځوانانو بې کچې، چې مینې او علاقې دې ته وهڅولو ترڅو د لوړو زده کړو د یوې خصوصي موسسې پر تاسیس باندې اقدام وکړو، څکه له دې لارې د افغانانو د زده کړې او تحصیل کچه لوړېدلای شي او په سیمه کې یو مثبت او رغنده بدلون راتلی شي. همدغه غوښتنې او اړتیاوې د دې سبب شوې، چې د هجرت په دوران کې مو په ګاونډي هېواد پاکستان کې د لومړي ځل لپاره التقوی خصوصي لېسه تاسیس کړه او په پېښور کې یې خپل فعالیتونه پیل کړل، چې له هماغې نقطې په الهام اخیستنې سره، د زیاتو هڅو او کوښښونو په نتیجه کې په (۱۳۹۰ل) کې په دې وتوانېدو، چې په خپل ټاټوبي ننګرهار ولایت کې د التقوی د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د بنسټ ډبره کېږدو. التقوی د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه ، چې پیلیزه بنه یې التقوی خصوصي لېسه وه په کال (۱۳۹۰ل) د دلوې میاشتې په (۲۵) نېټه د هېواد د لوړو زده کړو وزارت څخه د (۵۵) ګڼې جواز په ترلاسه کولو سره تاسیس او د هېواد د ځوان نسل د ښې علمي روزنې او پالنې په موخه د لومړي ځل لپاره د ننګرهار ولایت مرکز جلال آباد ښار دویمې ناحیې اړوند د مرستون څلورلارې په ساحه کې د خپلو علمي او اکاډمیکو فعالیتونو دروازې پرانیستلې، چې په کال (۱۳۹۱ل) د ثور د میاشتې په دویمه نېټه یې خپل فعالیت پیل کړ. د یادې موسسې د کانکور لومړنۍ آزموینه د لوړو زده کړو وزارت او د التقوی د لوړو زده کړو موسسې له لورې د ټاکل شوي پلاوي تر څارنې لاندې په (۱۳۹۱/۱/۱۱ل) نېټه واخیستل شوه، چې د ختیځ زون د ښاري او لرې پرتو سیمو د دولسمو ټولګیو فارغانو په کې ګډون کړی و. د کانکور آزموینې او اړوندو چارو له ترسراوي وروسته په (۱۳۹۱/۲/۲ل) نېټه یې لومړنۍ درسي اونۍ پیل شوه. څرنګه ، چې د لوړو زده کړو وزارت د لایحې په اساس خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې په کال کې د کانکور د دوو آزموینو د اخیستلو اجازه لري؛ نو په همدې لړ کې التقوی د لوړو زده کړو موسسې تر دې دمه د کانکور (۱۸) آزموینې

اخیستي ، چې ګڼ شمېر نارینه او ښځینه محصلین او محصلانې په اړوندو پوهنځیو کې په تحصیل بوخت دي.

په دې پنځه کلن ستراتېژیک پلان کې د التقوی د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه خپل لیدلوري او موخو ته په کتو خپل ماموریت په موثره توګه ترسره کېدو لپاره ټولې اړتیاوې او اساتنیاوې په هر اړخیزه توګه په پام کې نیولي دي. ددې ستراتېژیک پلان په ترتیبولو کې د موسسې تېرو ستراتېژیکو پراختیایي پلانونو او د موسسې د ښکېلو خواوو رغنده نظرونه په پام کې نیول شوي. په ذکر شوي پنځه کلن پلان کې ټولې هغه برخې ، چې په تېرو ستراتېژیکو پلانونو کې یې چارې نیمګړې پاتې وې په پام کې نیول شوي او د موسسې اداره یې بشپړ پلي کېدو ته ژمنه ده.

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه دوه تحصیلي برنامې لري چې هره تحصیلي برنامه دوه تحصیلي رشتې لري چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

| ګڼه | پوهنځي | څانګې |
|---|---|---|
| 1 | حقوق او علوم سیاسي | حقوقي علوم |
| | | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې |
| 2 | اقتصاد | مالي اداره تجارت |

## د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د (۱۳۹۹) تحصیلي کال برحاله محصلینو شمېرنه (احصایه)

| ګڼه | پوهنځی | نارینه | ښځینه | ټول |
|---|---|---|---|---|
| 1 | حقوق او علوم سیاسي | 2842 | 225 | 3067 |
| 2 | اقتصاد | 1190 | 34 | 1224 |
| | ټول | 4032 | 259 | 4291 |

## د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د (۱۳۹۹) تحصیلي کال د استادانو شمېرنه ( احصایه)

| ګڼه | پوهنځی | څانګې | بالمقطع – نارینه – داکتر | بالمقطع – نارینه – ماستر | بالمقطع – نارینه – لیسانس | بالمقطع – ښځینه – داکتر | بالمقطع – ښځینه – ماستر | بالمقطع – ښځینه – لیسانس | ټول | دایمي – نارینه – داکتر | دایمي – نارینه – ماستر | دایمي – نارینه – لیسانس | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حقوق او سیاسي علوم | حقوقي علوم | 3 | 5 | 3 | | | | 11 | | 9 | 8 | 17 |
| | | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | 1 | 12 | 5 | | | 1 | 19 | 1 | 8 | 5 | 14 |
| پوهنځي مجموعه | | | 4 | 17 | 8 | | | 1 | 30 | 1 | 17 | 13 | 31 |
| 2 | اقتصاد | مالي څانګه | | 3 | | | | | 3 | | 2 | 2 | 4 |
| | | اداره او تجارت څانګه | | 1 | | | | | 2 | | 7 | 4 | 11 |
| پوهنځي مجموعه | | | | 4 | | | | | 5 | | 9 | 6 | 15 |
| د تحصل کچې په توپیر ټول | | | | 21 | 8 | | | 1 | 35 | | 26 | 19 | 46 |
| عمومي مجموعه | | | 81 | | | | | | | | | | |

## د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د (۱۳۹۹) تحصیلي کال د اداري او خدماتي کارکوونکو شمېرنه (احصا یه)

| ګڼه | پوهنځی | اداري کارکوونکي (مامور) – نارینه | اداري کارکوونکي (مامور) – ښځینه | ټول | خدماتي کارکوونکي – نارینه | خدماتي کارکوونکي – ښځینه | ټول ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حقوق او سیاسي علوم | 12 | 1 | 13 | 10 | 1 | 11 |
| 2 | اقتصاد | 11 | | 11 | 10 | | 10 |
| پوهنځیو مجموعه | | 23 | 1 | 24 | 20 | 1 | 21 |
| عمومي مجموعه | | 45 | | | | | |

### د مؤسسې لرلید (Vission)

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري ، چې د مشخصو تخصصي، علمي او څېړنيزو پروګرامونو د وړاندې کولو له لارې د هېواد او سيمې په کچه د يو اکاډميک، علمي او څېړنيز بنسټ په توګه وپېژندل شي.


### د مؤسسې ماموريت (Mission)

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د افغاني ټولنې د اړتياوو په نظر کې نيولو سره علمي او څېړنيز خدمات وړاندې کوي او له قوانينو او اکاډميکو معيارونو سره په مطابقت کې ژمن او مسلکي فارغان ټولنې ته وړاندې کوي.

### د مؤسسې ارزښتونه (Values)

- نافذه قوانينو په رڼا کې د ملي حاکميت او ملي ګټو ساتنه او بشپړ درناوي.
- په روزنيز علمي چاپيريال کې اسلامي او ملي افکارو ته درناوي او بشپړه پاملرنه.
- مؤسسه د استادانو، څېړونکي او محصلانو اکاډميکې آزادۍ ته درناوی کوي او دې موخې ته د رسيدو لپاره يې د اکاډميکې آزادۍ د تنظيم پاليسي ترتيب کړې ده.
- مؤسسه ټولو اخلاقي ارزښتونه ته درناوی لري او دې موخې ته رسيدو لپاره يې اخلاقي پاليسي ترتيب کړې ده.
- مؤسسه د استادانو، اداري کارکوونکو او خدماتي کار کوونکو وظيفوي تضمين ته ژمنه ده او د دې چارې د سمبالښت لپاره يې د بشري منابعو پاليسي رامنځته کړې ده.
- د بېلابېلو علمي او ټولنيزو پروګرامونو پرمټ د ټولنې پرمختګ کې د خپلې دوامدارې ونډې ساتل.
- په تحصيلي او اداري بهير کې د مساوات، ګډون او متقابل احترام اصلونو رعايت.

# د موسسي تشکیلاتي چارت



# دوهم فصل

## د چاپیریالي عواملو مطالعه او د ستراتیژیکو پروګرامونو لومړیتوب

دا چې د التقوی لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹۱ل کال کې د فعالیت جواز ترلاسه کړی، تردې مهاله یې پنځه دورې فارغان ورکړي، او اوس هم ګڼ شمېر محصلان په دې مؤسسه کې په زده کړو بوخت دي، چې د ماسترۍ او دوکتورا په کچه د علمي کادرونو له خوا یې د تدریسي چارې پرمخ وړل کېږي، د دې ترڅنګ التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه مسلکي اداري پرسونل په درلودلو سره د هېواد په کچه د یو پیاوړي تحصیلي بنسټ په توګه فعالیت کوي.

## لومړی مبحث: د چاپیریالي عوامو مطالعه

التقوی د لوړو زده کړو موسسې د ستراتېژیک پلان د جوړولو په موخه د مؤسسې رهبرۍ، استادانو، اداري کارکوونکو، برحاله او فارغ محصلانو او همدارنګه ښکیلو خواؤ او د ټولنې بېلا بېلو اقشارو ته مراجعه کړې؛ ترڅو په داخلي چاپیریال کې د خپلو کمزورو او پیاوړو ټکو معلومولو او په بهرني چاپیریال کې د فرصتونو او ننګونو په معلومولو سره راتلونکې ستراتېژیکې موخې وټاکې او د لاسته راوړلو لپاره یې هڅې وکړي.

### لومړی: د داخلي محیطي عواملو تحلیل

د داخلي محیطي عواملو د تحلیل په موخه لومړی د مؤسسې داخلي پیاوړي ټکي او ورپسې د کمزورتیا ټکي په ګوته کوو، تر څو معلومه شي چې د کومو کمزورو ټکو د پیاوړي کولو له لارې کولای شو ستراتیژیکو موخو ته ورسېږو.

| Key internal factors Evaluation | | | | |
|---|---|---|---|---|
| s/n | Strength | weight | Rating | weight Scor |
| 1 | موسسه د خپلو ټولو علمي برنامو لپاره معياري تحصيلي نصابو لري. | 0.15 | 3 | 0.45 |
| 2 | موسسه معياري اداري او تدريسي سهولتونه او امکانات لري. | 0.07 | 3 | 0.20 |
| 3 | موسسه معياري کتابتون لري او د کتابتون ودې او انکشاف ته ژمنه ده. | 0.07 | 2 | 0.13 |
| 4 | موسسه د خپلو چارو د تنظيم او ښه مخ ته وړلو لپاره د وخت د غوښتنو مطابق  معياري ډيټابيس، ويب سايټ او د برېښنايي زده کړو سيستمونه لري. | 0.12 | 3 | 0.36 |
| 5 | موسسه د علمي څېړنو تر سره کولو، ودې او انکشاف ته ژمنه ده. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 6 | موسسه د خپلو استادانو او اداري کارمندانو د ظرفيت لوړوني لپاره په علمي، څېړنېزې، اداري او مديريتي برخو کې د ظرفيت لوړوني برنامې لري. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 7 | موسسي د خپلو علمي، څېړنېزو، ټولنيزو، فرهنګي او عملي برنامو د وړاندې کولو له طريقه په ټولنه کې پراخه ونډه لري. | 0.07 | 3 | 0.20 |
| 8 | موسسه د غوره تحصيلي خدماتو د وړاندې کولو له امله په ټولنې، ذيربطه اداراتو او د ټول هيواد په کچه يو نيک نوم خپل کړی. | 0.07 | 2 | 0.13 |
| 9 | موسسي د ښځينه محصلانو د زده کړو لپاره لازم سهولتونه او امکانات مهياء کړي. | 0.05 | 2 | 0.10 |
| 10 | موسسي د خپلو استادانو او کار کوونکو د حقوقو . امتيازاتو او مکلفيتونو تر منځ تر ممکنه حده موازنه په نظر کې نيولې. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| | weaknesses | 0 | 0 | 0.00 |
| 1 | موسسه تر اوسه خپل تعمير نه لري. | 0.15 | 3 | 0.45 |
| 2 | موسسي د کيفيت لوړوني د مقتضاء مطابق بريښنايي کتابتون نه دی تنظيم کړی. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 3 | موسسه مناسب پارکينګ نه لري. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 4 | موسسه د سپورټي لوبو لپاره خپل جمنازيوم نه لري. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 5 | موسسه د محصلانو له فيس پرته د عوايدو نور چينلونه، نه لري. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| | Total | 1.0 | | 2.87 |


## دوهم: د خارجي ( بهرنیو)عواملو تحلیل

د خارجي عواملو د تحلیل په موخه لاژمه ده چې فرصتونه او ننګونې په ګوته کړو او په پایله کې د (QSPM) پر بنسټ د ستراتیژیو لومړیتوب وټاکو

| Key external factors Evaluation | | | | |
|---|---|---|---|---|
| s/n | opportunity | weight | Rating | weight Scor |
| 1 | د مؤسسي تحصیلي نصاب د ټولني د اړتیاو سره برابر دی. | 0.12 | 3 | 0.36 |
| 2 | د مؤسسي اعتبار په ټولنه کې ډېر ښه دی | 0.08 | 3 | 0.24 |
| 3 | د مؤسسي په اړونده ځانګو کې د زده کړیالانو علاقه مندي ډېره ده | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 4 | مؤسسه په ټولنه کې پراخه ونډه لري. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| 5 | د هیواد امنیتي امنیتي وضعیت د زده کړو لپاره مناسب دی | 0.05 | 2 | 0.1 |
| 6 | د محصلینو لپاره ټاکل شوی فیس د ټولنې د اقتصادي شرایطو سره برابر دی. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 7 | د پوهنتونو ترمنځ د همکارۍ مساعد شرایط | 0.04 | 2 | 0.08 |
| 8 | د نوي او عصري ټکنالوژي موجودیت | 0.08 | 2 | 0.16 |
| 9 | د خلکو علاقه مندي د لوړو زده کړو سره | 0.08 | 2 | 0.16 |
| | | | | |
| Threats | | | | |
| 1 | په ټولنه کې د اقتصادي ستونزو موجودیت | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 2 | دمحصلینو له لوري په خپل وخت دفیس نه ورکول. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 3 | په بهرنیو پوهنتونو کې دلوړو زده کړو په موخه دمحصلینو نه جذبول | 0.04 | 2 | 0.08 |
| 4 | ددولتي پوهنتونو به پرتله دخصوصي پوهنتونونو دباورنه شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 5 | دعلمي رتبو دنه شتون او ډېر کارله امله داستادانو تلل | 0.01 | 2 | 0.02 |
| 6 | دموسسي دکارکونکولپاره وظیفوي تضمین نه شتون | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 7 | د محصلانو د ظرفیت ټیټوالی | 0.02 | 3 | 0.06 |
| 8 | په منظمه توګه د څېړنو نشتون | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 9 | د سالم رقابت نشون | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 10 | له هیواده د ځوانانو فرار | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 11 | له هیواده د علمي کادرونو فرار | 0.03 | 2 | 0.06 |
| Total | | 1 | | 2.67 |

## د داخلي او بهرنيو عواملو مقايسه او نهايي نمرې

## د داخلي او بهرنيو عواملو نهايي نمرې MATRIX EXTERAL & INTERNAL



## داخلي عوامل

### پیاوړي ټکي

1. موسسه د خپلو ټولو علمي برنامو لپاره معیاري تحصیلي نصابو لري.
2. موسسه معیاري اداري او تدریسي سهولتونه او امکانات لري.
3. موسسه معیاري کتابتون لري او د کتابتون ودې او انکشاف ته ژمنه ده.
4. موسسه د خپلو چارو د تنظیم او ښه مخ ته وړلو لپاره د وخت د غوښتنو مطابق معیاري ډیټابیس، ویب سایټ او د برېښنایي زده کړو سیستمونه لري.
5. موسسه د علمي څېړنو تر سره کولو، ودې او انکشاف ته ژمنه ده.
6. موسسه د خپلو استادانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړونې لپاره په علمي، څېړنېزې، اداري او مدیریتي برخو کې د ظرفیت لوړونې برنامې لري.
7. موسسې د خپلو علمي، څېړنېزو، ټولنیزو، فرهنګي او عملي برنامو د وړاندې کولو له طریقه په ټولنه کې پراخه ونډه لري.
8. موسسه د غوره تحصیلي خدماتو د وړاندې کولو له امله په ټولنې، ذیربطه اداراتو او د ټول هیواد په کچه یو نیک نوم خپل کړی.
9. موسسې د ښځینه محصلانو د زده کړو لپاره لازم سهولتونه او امکانات مهیاء کړي.
10. موسسې د خپلو استادانو او کارکوونکو د حقوقو. امتیازاتو او مکلفیتونو تر منځ تر ممکنه حده موازنه په نظر کې نیولې.

### کمزوري ټکي

1. موسسه تر اوسه خپل تعمیر نه لري.
2. موسسې د کیفیت لوړونې د مقتضاء مطابق برېښنایي کتابتون نه دی تنظیم کړی.
3. موسسه مناسب پارکینګ نه لري.
4. موسسه د سپورتي لوبو لپاره خپل جمنازویوم نه لري.
5. موسسه د محصلانو له فیس پرته د عوایدو نور چینلونه، نه لري.

## خارجي عوامل

### فرصتونه

1. د مؤسسي تحصیلي نصاب د ټولني د اړتیاو سره برابر دی.
2. د مؤسسي اعتبار په ټولنه کې ډېر ښه دی
3. د مؤسسي په اړونده ځانګو کې د زده کړیالانو علاقه مندي ډېره ده
4. مؤسسه په ټولنه کې پراخه ونډه لري.
5. د هیواد امنیتي وضعیت د زده کړو لپاره مناسب دی
6. د محصلینو لپاره ټاکل شوی فیس د ټولني د اقتصادي شرایطو سره برابر دی.
7. د پوهنتونو ترمنځ د همکاری مساعد شرایط
8. د نوي او عصري ټکنالوژي موجودیت
9. د خلکو علاقه مندي د لوړو زده کړو سره

### ګواښونه

1. په ټولنه کې د اقتصادي ستونزو موجودیت
2. دمحصلینو له لوري به خپل وخت دفیس نه ورکول.
3. په بهرنیو پوهنتونو کې دلوړو زده کړو په موخه دمحصلینو
4. ددولتي پوهنتونو به پرتله دخصوصي پوهنتونونو دباورنه ش
5. دعلمي رتبو دنه شتون او ډېر کارله امله داستادانو تلل
6. دموسسې دکارکونکولپاره وظیفوي تضمین نه شتون
7. د محصلانو د ظرفیت ټیټوالی
8. په منظمه توګه د څېړنو نشتون
9. د سالم رقابت نشون
10. له هیواده د ځوانانو فرار
11. له هیواده د علمي کادرونو فرار

## د مؤسسې ستراتیژي

| | |
|---|---|
| **تهاجمی وضعیت (SO)**<br>1. د S1,S2 په مرسته کولای شو د O1 څخه استفاده وکړو<br>2. د S4 په مرسته کولای شو د O5 څخه استفاده وکړو | **محافظه کار وضعیت (WO)**<br>1. د O5 پواسطه کولای شو W1 حل کړو<br>2. د O8 پواسطه کولای شو W2 حل کړو |
| **رقابتی وضعیت (ST)**<br>1. د S8 په مرسته کولای شو T3,T4 حل کړو<br>2. د S10 په مرسته کولای شو T5,T6 حل کړو<br>3. د S5,S7 په مرسته کولای شو T8 حل کړو | **تدافی وضعیت (WT)**<br>1. د T2 په حل سره W5 هم حلېدای شي<br>2. د T8 په حل سره W5 هم حلېدای شي |

# دستراتیژیو د لومړیتوبونو ټاکنه د متریکس په اساس (QSPM)

| | QSPM Matrix | | د خدماتو د پراخولو ستراتيژي | | په مارکيټ کې د رسوخ ستراتيژي | | رقابتي ستراتيژي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | فرصتونه | وزن | د جزابيت ظريب | مجموعه | د جزابيت ظريب | مجموعه | د جزابيت ظريب | مجموعه |
| 1 | د مؤسسې تحصيلي نصاب د ټولنې د اړتياو سره برابر دی. | 0.12 | 4 | 0.48 | 2 | 0.24 | 2 | 0.24 |
| 2 | د مؤسسې اعتبار په ټولنه کې ډېر ښه دی | 0.08 | 3 | 0.24 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| 3 | د مؤسسې په اړونده ځانګو کې د زده کړيالانو علاقه مندي ډېره ده | 0.05 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 | 2 | 0.10 |
| 4 | مؤسسه په ټولنه کې پراخه ونډه لري. | 0.06 | 3 | 0.18 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |
| 5 | د هيواد امنيتي وضعيت د زده کړو لپاره مناسب دی | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 |
| 6 | د محصلينو لپاره ټاکل شوی فيس د ټولنې د اقتصادي شرايطو سره برابر دی. | 0.05 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 | 2 | 0.10 |
| 7 | د پوهنتونو ترمنځ د همکارۍ مساعد شرايط | 0.04 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| 8 | د نوي او عصري ټکنالوژي موجوديت | 0.08 | 3 | 0.24 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| 9 | د خلکو علاقه مندي د لوړو زده کړو سره | 0.08 | 3 | 0.24 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| | **ګواښونه** | | | 0 | | 0.00 | | 0.00 |
| 1 | په ټولنه کې د اقتصادي ستونزو موجوديت | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.20 |
| 2 | دمحصلينو له لوري به خپل وخت دفيس نه ورکول. | 0.04 | 3 | 0.12 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| 3 | په بهرنيو پوهنتونو کې دلوړو زده کړو په موخه دمحصلينو نه جذبول | 0.04 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| 4 | ددولتي پوهنتونو به پرتله دخصوصي پوهنتونونو دباورنه شتون. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| 5 | دعلمي رتبو دنه شتون او ډېر کارله امله داستادانو تلل | 0.01 | 2 | 0.02 | 2 | 0.02 | 2 | 0.02 |
| 6 | دموسسې دکارکونکولپاره وظيفوي تضمين نه شتون | 0.03 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 |
| 7 | د محصلانو د ظرفيت ټيټوالی | 0.02 | 3 | 0.06 | 3 | 0.06 | 3 | 0.06 |
| 8 | په منظمه توګه د څېړنو نشتون | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 2 | 0.08 |
| 9 | د سالم رقابت نشون | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| 10 | له هيواده د ځوانانو فرار | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| 11 | له هيواده د علمي کادرونو فرار | 0.03 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 |
| | | 1.0 | | 0 | | 0.00 | | 0.00 |
| | **قوتونه** | | | 0 | | 0.00 | | 0.00 |
| 1 | موسسه د خپلو ټولو علمي برنامو لپاره معياري تحصيلي نصابو لري. | 0.15 | 3 | 0.45 | 3 | 0.45 | 3 | 0.45 |
| 2 | موسسه معياري اداري او تدريسي سهولتونه او امکانات لري. | 0.07 | 3 | 0.2 | 3 | 0.20 | 3 | 0.20 |
| 3 | موسسه معياري کتابتون لري او د کتابتون ودې او انکشاف ته ژمنه ده. | 0.07 | 2 | 0.13 | 2 | 0.13 | 2 | 0.13 |
| 4 | موسسه د خپلو چارو د تنظيم او ښه مخ ته وړلو لپاره د وخت د غوښتنو مطابق معياري ډيټابيس، ويب سايټ او د بريښنايي زده کړو سيستمونه لري. | 0.12 | 3 | 0.36 | 2 | 0.24 | 2 | 0.24 |
| 5 | موسسه د علمي څېړنو تر سره کولو، ودې او انکشاف ته ژمنه ده. | 0.03 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 |
| 6 | موسسه د خپلو استادانو او اداري کارمندانو د ظرفيت لوړونې لپاره په علمي، څېړنيزې، اداري او مديريتي برخو کې د ظرفيت لوړونې برنامې لري. | 0.05 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 | 2 | 0.10 |
| 7 | موسسې د خپلو علمي، څېړنيزو، ټولنيزو، فرهنګي او عملي برنامو د وړاندې کولو له طريقه په ټولنه کې پراخه ونډه لري. | 0.07 | 3 | 0.2 | 3 | 0.20 | 3 | 0.20 |
| 8 | موسسه د غوره تحصيلي خدماتو د وړاندې کولو له امله په ټولنې، ذيربطه اداراتو او د ټول هيواد په کچه يو نيک نوم خپل کړی. | 0.07 | 4 | 0.27 | 2 | 0.13 | 2 | 0.13 |
| 9 | موسسې د ښځينه محصلانو د زده کړو لپاره لازم سهولتونه او امکانات مهياء کړي. | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |
| 10 | موسسې د خپلو استادانو او کار کوونکو د حقوقو ـ امتيازاتو او مکلفيتونو تر منځ تر ممکنه حده موازنه په نظر کې نيولې. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| | **د ضعف ټکي** | | | | | | | 0.00 |
| 1 | موسسه تر اوسه خپل تعمير نه لري. | 0.15 | 3 | 0.45 | 2 | 0.30 | 2 | 0.30 |
| 2 | موسسې د کيفيت لوړونې د مقتضاء مطابق بريښنايي کتابتون نه دی تنظيم کړی. | 0.03 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 |
| 3 | موسسه مناسب پارکينګ نه لري. | 0.03 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 |
| 4 | موسسه د سپورتي لوبو لپاره خپل جمنازويوم نه لري. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| 5 | موسسه د محصلانو له فيس پرته د عوايدو نور چينلونه، نه لري. | 0.03 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 |
| | مجموعه | 1.0 | | 5.93 | | 4.74 | | 4.64 |

# دریم فصل

## د ستراتیژیک پلان پنځه کلونې برخې

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلونکي کې د معلوماتي ټکنالوژۍ، څېړنه، عوايدو، په ټولنه کې ونډه او نړیوالو فعالیتونو په برخه کې لاندې کړنې ترسره کړي:

## لومړی مبحث: معلوماتي ټکنالوژي

دا چې نن ورځ معلوماتي ټکنالوژۍ په ادارتو کې د چارو د سرعت، شفافیت او مؤثریت سبب ګرځېدلې نو دا یو لازمي امر دی ترڅو په تحصیلي بنسټونو کې ترې استفاده وشي پس التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه هم غواړي چې په راتلوونکي پنځو کلونو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

- **د معلوماتي ټکنالوژۍ زېربنا سمبالتیا او بشپړول:**

لکه څنګه چې معلوماتي تکنالوژي د تدریس مهمه برخه ده، نو هره تحصیلي مؤسسه باید خپله د معلوماتي تکنالوژۍ برخه د نړیوالو معیارونو سره سم سمبال او ګټې اخستنې ته وسپاري، د معلوماتي ټکنالوژۍ زېربنا سمبالول او وده ورکول د التقوا د لوړو زده کړو د مؤسسې د لومړیتوبونو څخه دي او په راتلونکو پنځو کلونو کې به مؤسسه د یو عصري او په بشپړ ډول سمبال معلوماتي تکنالوژۍ لرونکې وي.

- **برېښنایي زده کړې**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د برېښنایي زده کړو د ښه سمبالښت په موخه اصلي او فرعي برېښنايي کمیټې ایجاد کړې چې عمده دندې یې په لاندې ډول دي:

1. د برېښنایي زده کړو اړوند استادانو او محصلانو ته د ظرفیت لوړونې سمینارونو دائیرول
2. د برېښنایي زده کړو (E-Learning) برنامو همغږي کول
3. د استادانو ویډیو یي لکچرو د ټولنیزو رسنیو له لارې نشرول
4. د برېښنایي زده کړو اړوند د پلانونو او راپورونو ترتیبول
5. اضطراري حالاتو کې د الکترونیکي زده کړو لکه smartcube ERP نړیوال ډیټابیس ، د (zoom) اپلیکیشن، youtube چینل، whats App، زمینه مساعدول او په راتلونکي کې دې برخې ته لاپراختیا ورکول.

- **بریښنایي کتابتون**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه دې ته ژمنه ده چې په راتلوونکي کې د فزیکي کتابتون ترڅنګ بریښنایي کتابتون ته هم زمینه مساعده کړي، ترڅو علمي کادر غړي او محصلان وکولای شي چې پخپلو درسي پروګرامونو او څېړنو کې ترې استفاده وکړي.

- **د معیاري ډیټابیس سیستم کارونه**:

التقوا د لوړو زده مؤسسه د خپلو اداري او تعلیمي برخو لپاره یو معیاري ډیټابیس لري چې پواسطه یې کولای شي د ښه مدیریت او څارنې لپاره خپل ټول فعالیتونه په یو سیستم کې راټول کړي، نوموړی ډیټا بیس چې مختلفې برخې لري لکه د محصلینو مکمل ریکارډ، د اول سمستر څخه تر اتم سمستره پورې د محصلینو د ازموینو د نومرو ساتنه، مالي برخه چې هم پکې د محصلینو فیس او هم د اداري لګښتونه ریکارډ کېږي. همدارنګه به د محصلانولپاره خپل خپل اکاونټونه جوړ شی چې آنلاین لاسرسی به ورته لری او هم به د استادانو لپاره د آنلاین حاضری سیستم ولری.

- **په نوی او عصری ښه ویبسایټ جوړول**:

که څه هم په اوسنی وخت کې مؤسسه خپل ویبسایټ لری خو د مؤسسې رهبری غواړی لاپر مختللی او په عصری ښه ویبسایټ ډیزاین او په لاره واچوی ترڅو وکولای شي مینوالو ته د مؤسسې او د مؤسسې د پروګرامونو په هکله غوره او د قیق معلومات وړاندې کړي.

- **اداري بیروکراسي**

په نړیواله کچه په ادارو کې بیروکراسي د چارو د ښه سمبالښت په برخه کې یو منل شوي اصل ګڼل کېږي، چې اداري یو لړ مهم اسناد د شواهدو په توګه له ځانه سره په دوامداره توګه وساتي. بیا په ځینو مواردو کې منفي بیروکراسي چارې له خنډ او ځند سره مخ کوي لکه: د وخت ضایع، د چارو نه ترسره کېدل، فساد او د مصارفو زیاتوالی. پر همدې اساس، مؤسسه تل هڅه کوي چې د چارو د چټکتیا، روڼوالي او موثریت په موخه د منفي بیروکراسۍ د لمنځه وړولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي :

- ☐ د معالوماتي ټکنالوژۍ پر مټ د مؤسسې ادارو نښلول
- ☐ په اداري پروسو کې د غیر ضروري پړاوونو لمنځه وړل
- ☐ د اداري کړنو د روښتیا په موخه د کمپیوټري پروګرامونو رامنځته کول
- ☐ د تدارکاتي سیستم په چارو کې نوي والی رامنځته کول چې عملاً په دې برخه کار روان دی.
- ☐ په ادارو چارو ګمارل شویو اشخاصو ته د مسولیت په پام کې نیولو صلاحیت سپارل

- **د مؤسسې د سیستم ډیجیټلي کول**

التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه هم د خپلو علمي او اداري چارو د لا پرمختیا او عصري سیستم د رامنځته کولو لپاره یو جامع او د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو او مقرراتو او همدارنګه د نړیوالو معیاراتو مطابق یو سیستم رامنځته کړي، چې د (Smart Cube ERP) ډیټابیس په نوم یادیږي، دغه سیستم چې د نرم افزار (سافټویر) د کورنۍ په نوي او عصري تکنالوجۍ سمبال دي چې د هیواد معیاري سیستمونو ترڅنګ ګڼ شمیر نړیوال معیاري راپورونه برخي او تګلاري په نظر کي نیول شوي، همدارنګه دغه سیستم د ډیټا د منظم ساتلو سیستم، محصلین خپلو معلوماتو ته په اسانۍ او له هر ځاي څخه لاسرسي لري، اداري کارمندان او استادان لپاره جلا جلا برخي او اسانتیاوي، د کانکور انلاین ثبت نام، انلاین نتایجو منظم او عصري سیستم، د محصل د تحصیلي دوري د ټولو فعالیتونو منظم ارشیف او راپورونه، د محصلینو انلاین حاضري او د محرومۍ او ناکامۍ شفاف سیستم، لوړو زده کړو وزارت ته د راپور ورکولو منظم سیستم ، د محصلینو د اکاونټونو او همدارنګه د کورنیو د غړو اکاونټونو منظم سیستم، د شمولیت څخه تر فراغت پوري د محصل ټولو معلوماتو ته په اسانۍ لاسرسي، د کنترول او ارزیابۍ منظمي برخي او راپورونه، د تضمین کیفیت له طریقه د محصلینو پر مټ د استادانو د ارزیابۍ منظمه او شفافه پروسه، د استادانو درسي مفرداتو (کتاب، چیپټر داسي نور) ته د محصلینو چټک لاسرسي، د محصلینو د شمولیت فراغت، اخطاري، او د محصلینو د فراغت اسنادو د انلاین تصدیق منظم او پرمختللي سیستم او همدارنګه د محصلینو د اکاونټ (پورټل) لپاره د سمارټ فون اپلیکیشن لري.

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکي کې د ډیجټلي سیستم لا پراختیا لپاره کار کوي.

**په لویه کچه د Fairwall System فعالول**:

فایرو وایل داسې یو سیستم دی چې په له مخې یې موږ کولای شي خپله اداره د ټکنالوژیکي خطراتو څخه خوندي کړو لکه: Phishing attak ددې په اساس یو غلاکوونکو (Hacker) کولای شي چې یو د اصلي ویبسایټ په یوه تقلبي بڼه جوړ کړي او د یوې مشخې اداري یا شخص ډیټا پرې غلا کړي.

Malware attak دا داسې یو سافټ ویر دی چې په قصدي توګه د کمپیوتر، سرور، مراجعینو شبکې ګډوډې کړي او د هغوي څخه شخصي معلومات ترلاسه کړي او یا هم مالک د سیستم د معلوماتو ته د لاس رسي څخه محروم کړي.

د Mikrotik Router اخیستل:

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه کوچنی مایکرو تیک لري په راتلوونکي کې پلان شته چې داسې مایکرو ټک راوټر ولرو ترڅو د ډېرو استعمالوونکو (Users) د کنترول وړتیا ولري.

## دوهم مبحث: څېړنه

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د څېړنې په برخه کې د ټولنې ایجاباتو او غوښتنو ته په کتو پر ګڼو علمي او عملي موضوعاتو څېړنې کړې او لاهم دغه بهیر جریان لري.

- **د څېړنیز مرکز رامنځته کول**

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د خپلو څېړنو د لاپیاوړتیا او پرمختګ لپاره یو څیړنیز مرکز جوړ کړي په کوم کې به چې د مؤسسې استاذانو او محصلانو په ګډه ډول ډول څېړنې ترسره کوي، ددې سره به د زیاتو کمپنیو، ادارو او موسساتو د پروژو د تطبیق او یا تولیداتو د جوړولو لپاره ازمویل شوي نتایج موجود وي او هم به د اداري لپاره یوه عایداتي سرچینه وي. د څېړنیز مرکز لاندې عمده فعالیتونه ترسره کوي:

1. د څېړنو په برخه کې د اړتیا وړ ساحو مشخص کول.
2. د څېړنیزو موضوعاتو انسجام او په ملي او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې د څېړنو خپرول
3. د څېړنیزې پروسې څخه نظارت
4. د څېړنو پایلو شریکول د اړونده اداراتو سره
5. د څېړنو په برخه کې د سمینارونو، ورکشاپونو او کورسونو دائیرول
6. د کال د غوره څېړنې او څیړونکې مشخص کول او تقدیرول
7. د څیړونو د اصلي او فرعي کمیټو څخه نظارت
8. د څیړنو اړوند پالیسیانو او میکانیزمونو جوړول
9. د مؤسسې ارتباط د نور تحصیلي بنسټونو، تصدیو، نورو څېړنیزو ادارو او څېړونکو سره
10. نړیوالو معتبرو ژورنالونو ته د څېړونکو د لاس رسی زمینه برابرول

- **د علمي څېړنو کمیټې**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د څېړنو د لاپیاوړتیا او پرمختګ لپاره د مؤسسې او پوهنځیو په کچه د علمي څېړنو کمیتې ایجاد کړي چې نوموړي کمیتې د اړونده علمي شورا ګانو لخوا د تائید شوي تشکیلاتو لرونکي دي چې عمده دندې په لاندې ډول دي:

1. د څېړنیز مرکز په همکاری د څېړنو اړوند علمي سمینارونو او ورکشاپونو دائیرول.
2. د څېړنیزو پروپوزلونو (د څېړنې پلانونو) د پروسې تصحیح او نظارت
3. څېړنو او د کمیتو پلانونو او راپورونو ترتیب او تنظیم
4. د څېړنې د فرهنګ دود کول او دې برخې ته د استادانو او محصلانو هڅونه.
5. د څېړنیزو آثارو اومقالو مطالعه، برسي او تصحیح

6. د ټولنې د ستونزو د حل په موخه د علمي څېړونو ترسره کول او په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې یې خپرول

- **څېړنیز لابراتوار**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د یو څېړنیز لابراتوار رامنځته کوي چې پدې سره به څېړنیز فعالیتونه لا ګړندي کېږي، نوموړی لابراتوار به د پنځه یا یو کمپیوترونو، میزونه او چوکۍ، ځانګړی دفتر او بودیجه، او د څېړنو ځانګړی متخصص ټیم لرونکی به وي.

- **علمي مجله**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د (التقوی علمي مجله) کې د نورو پوهنتونو، لوړو زده کړو مؤسساتو او علاقه لرونکو اشخاصو علمي څېړنو او مقالو نشر دی چې د هرې مقالې یا څېړنې د نشر په مقابل کې (۲۵۰۰) افغانۍ اخیستل کېږي.
علمي مجله ځانګړنی تشکیل لري

## درېیم مبحث: عواید

هره اداره د خپلو چارو ترسره کولو لپاره په کافي اندازه بودیجې ته اړتیا لري، چې د بودیجې د ښه تنظیم او انکشاف لپاره عوایدو ته اړتیا ده، ترڅو د مؤسسه وکولای شې چې خپلې تدریسي، اداري او څېړنیزې چارې پرته له خنډ او ځنډ سره پرمخ یوسي. د مؤسسې د عوایدو کانالونو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

- **د محصلانو فیسونه**

دا چې خصوصي تحصیلي مؤسساتو عواید تر ډېره د محصلانو په فیس باندې ولاړه ده نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولنې اقتصادي وضعیت په درک د خپلو تحصیلي خدماتو په بدل کې یوه اندازه فیس پر محصلانو باندې تعین کړی چې چې په قسطوار شکل ترې اخیستل کېږي.

- **د محصلانو په کمیت کې زیاتوالی**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د مناسب فیس په درلودلو د خیریه بنسټونو او مدني ټولنو سره د هوکړه لیکونو مناسب چاپیریال په درلودلو، د مجربو استاذانو، معیاري تحصیلي خدماتو، او ګڼ شمېر نورو سهولتونو په درلودلو سره کولای شي د محصلانو د کمیت په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي.

- **لوړو زده کړو ته د ښځو لاسرسی**

التقوی لوړو زده کړو مؤسسه د ښځو چارو ریاست، رلیف (RELIF) مؤسسې او نورو مدني بنسټونو سره د هوکړه لیکونو، ښځو ته څلوېښت سلنه تخفیف، مجهز ټرانسپورټ، په کتابتون کې د مطالعې او تحقیق ځانګړي ځای، د تفریح لپاره ځانګړي ځای، د ښځینه کارمندانو او استاذانو استخدام له لارې به په

دې وتوانېږي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښځینه ؤ لپاره د لوړو زده کړو زمینه مساعده او په کمیت کې زیاتوالی راولي.

- **د ډونرانو د مرستو جلب او جذب**

په دې غیر یقیني اقتصادي شرایطو کېچې مونږ په کښتون لرو او هغه ننګوني چې د ګلوبلایزیشن یا نړیوال توب سره رامنځته شوی تحصیلي مؤسسې باید په جدي توګه په بازار کېد پاتې کیدلو لپاره متبادلې لارې ولټوي دا چې اوس د التقوی د لوړو زد کړو د مؤسسې ټول عواید د محصیلینو د فیس له لارې چمتو کیږي، او د محصلانود شمیر کمښت، په مارکیټ کېسالم رقابت او انفلاسیون په نظر کېنیولو سره نوموړی عایدات دومره نه دی چې د اکادمیکې موسسې دبقا او تعلیمي اسانتیاوو د برابرولو لپاره بسنه وکړ، او زده کوونکي نشی کولای چس د اضافي آسانتیاوو لپاره نور تادیات هم وکړی ځکه د محصلانود زیات فیس ورکولو ظرفیت خپل اخری حد ته ریسدلی دی. نو ددی لپاره، د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د عوایدو له نورو سرچینو څخه د زده کونکو عوایدو سربیره د عاید سرچینې چمتو کړي. د راتلونکو پنځو کلونو لپاره، د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه پلان لری چې له لاندی سرچینو څخه خپل عاید زیات کړي:

- **څېړنېزې او د ارزیابی پروژې ترسره کول**

د خپلو علمي او مسلکي کادرونو څخه په ګټه اخستنې سره د مختلفو اداراتو او کمپنیو لپاره علمي او تحقیقي څیړنې ترسره کول، زیات شمیر اداری د خپلو کارونو د ارزیابی کولو او د راتلونکو پروژو د عملي کولو لپاره غواړی په همغه برخه کېڅیړنی وکړی تر څو د پروژې د پلې کولو لپاره مناسب پلان ترتیب او د شوی څیړنی په رڼا کېبی عملی کړی، همدارنګه یو شمیر اداری د خپلو ترسره پروژو ارزیابی کوی تر څو معلومه کړی چې پروژه یې د ډونر د غوښتنې او پلان له مخې تطبیق شوی او ورکړل شوی هدف ترلاسه شوی که نه؟

څرنګه چي التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د ډیرو با تجربه او مسلکیاستادانو لرونکېده او کولای شی چې په پورته ذکر شوو برخو کېڅیړنی او تحقیق وکړی، نو ددی لاری به نوموړی مؤسسه وکولای شی تر څو خپل عواید لوړ او د مؤسسې په لاپرختګ کېتری ګټه پورته کړی.

- **د سروې پروژې**

زیات شمیر دولتي او غیر دولتي اداري سروې د ټولنیزو څیړنو جمعیت پیژندنې او نورو په برخو کې د پوهې د زیاتولو لپاره کوي. د سروې څیړنې اکثرا د نظرونو، عامه فکرونو او احساساتو د ارزولو لپاره کارول کیږي، دا چې يادې اداري په نوموړي برخه مسلکي غړي نلري نو بیا اړ وي چې د یوې بلې اداري پر مټ دغه سروې ترسره کړي، نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو علمي او مسلکي کدرونو څخه په ګټه اخستنې سره کولای شي دا چوپړتیاوي وړاندې کړي او د یوې عایداتي سرچينې په توګه ترې ګټه واخلي.

- **د مختلفو ترینګونو چوپړتیاوو وړاندې کول**

په دې کې لنډ کورسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه او کنفرانسونه شامل دي. دغه برخه اکثرا د دوامداره تعلیمي او مسلکي پرمختیایي واحدونو له لارې اداره کیږي. عامه او خصوصي سکیټورونه او موسسات اکثرا په ځانګړو سیمو کې د خپلو کارکوونکو لپاره مسلکي پرمختګ ته اړتیا لري؛ پوهنتونونه کولی شي دې اړتیا ته ځواب ووايي او له دی لاری اضافی عایدات تولید کړي. التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه چې په مختلفو برخو کې وړ او مسلکي کدرونه لري او کولای شي چې په یاده برخه په وخت او غوره چوپړتیاوي وړاندې کړي.

- **د خرڅلاو لپاره کتابونو لیکل، ژباړه او د کتابونو پیرل او د کتې سره یې پلورل**

څرنګه چې مخکې هم یادونه شوي چې د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د ډیرو لوړو علمي کدرونو لرونکې ده ، او نوموړی علمی کدرنه په خپلو اړونده برخو هر کال تدریسی کتابونه تالیف کوی او په پوهنتونونو کېیی د تدریس لپاره وړاندی کوی،د درسي کتابونو بازار د درملتو د بازار په څیر دی،لکه څرنګه چې ډاکتران مریضانو ته درمل تجویز کوی او مریضان اړ دی چې یاد درمل وپیري همدارنګه د پوهنتون استادان هم خپلو محصلینو ته د ډول ډول کتابونو هغه که پخپله د نوموړی مؤسسې استادانو لیکلي وي او یا د نورو استادانو لخوا لیکل شوي وي د پیر او مطالعی لپاره سپارښتنه کوي تر څو د محلینو معلومات زیات او پوره پوهه ترلاسه کړي، خو دلته د استادانو دی ټګي ته پام نه وي چې که دغه لیکل شوي کتابونه د التقواي د لوړو زده کړو مؤسسې د کتابتون له لاری محصیلینو ته عرضه شي هم به ورته لاسرسي اسان وي او هم به د مؤسسې لپاره یو عایداتي سرچینه وګرځي، یعنی څومره چې محصیلین نوموړي کتابونه پیري په همغه اندازه به د مؤسسې عایدات لوړیږي، بل خوا که چیری د مؤسسې اداره ټول هغه کتابونه د محصیلینو لپاره په کتابتون کېپوره کړي چې اوس یي محصیلین د نورو منابعو نه ترلاسه کوي نو ددی سره به له یوی خوا محصیلینو ته د کتابونو پیدا کول اسان او منبع به ورته یو شی او له بلی خوا به مؤسسې ته تری په کافي اندازه عایدات لاس ته راځي .

- **د دونړانو څخه کومکونه ترلاسه کول/جلبول په مختلفو برخو کی:**

زیات شمیر دنړان یا بسپنه ورکوونکېداری غواړي د افغانانو سره د لوړو زده کړو اومسلکي زده کړو د فرصتونو برارولو کې مرسته وکړي تر څو دوی په هغه پوهه او مهارتونو چې دوی ورته اړتیا لري سمبال کړي. یعنی پدی معنی چې د کاري ځواک سره مرسته کوي.

څرنګه چې د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه اوس هم یو قرارداد په یاده برخه کې لري، نو کوشش به وکړو چې د نورو ډونړانو سره هم خپلی اړیکي پیاوړی کړو او په هغه شکل اساتیاوي برابری کړو چې دوی یی غواړی تر څو وکولای شو لا زیات ډونړان جلب او وڅوو تر څو یادی مؤسسې ته لا زیات تعلیمي فنډونه ورکړي او له دی لاری دخپل عایدات د نوو سرچینو څخه ترلاسه کړو.

- **د مشوره ورکولو خدمات وړاندی کول.**

مشوره ورکول یو له هغو مهمو وسیلو څخه دی د کوم پر مټ چې د التقوی د لوړو زد کړو مؤسسې استاذانو او کارکوونکې کولای شی خپلی علمي پوهی، مهارتونه او تجربی د مؤسسې څخه بهر د نورو ادارو سره شریک کړي، په شمول د حکومتي ادارو، عامه سکتور ادارو، ټولنیزو ډلو او سوداګری برخو کی.

مشورتي خدمتونه د پوهنتون اکادمیکه مشورتي څانګه ده او د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د نوښت یوه برخه به شي. موږ د التقوی د لوړو زده کړو د مؤسسې څو اړخیز څیړنیز مرکز چمتو کوو ترڅو ډیری هغو ستونزو او ننګونو ته ځواب ووایو چې مختلفی اداري او سازمانونه ورسره نن مخ دی او له دی لاری وکولای شو د تحصیلي مؤسسې د عایداتو په لوړولو کېرغنده روی ولوبوو.

- **لنډمهاله روزنیز کورسونه دایرول:**

په نننی رقابتی نړی کې ضروري ده چې د خپلې مسلکي ساحې د پرمختک په هکله فکر وشی، د لنډو مسلکي او علمي کورسونو تعقیبول کولای شی له هر چا سره مرسته وکړی تر څو په خپله مسلکېساحه کېلا پرمختګ وکړو او خپلی وړتیاوی لاغښتلی کړی. ددی لپاره چې لا پرمختللی او غوره مهارتونه ترلاسه کړی زیات شمیر مینوال غواړی دغه ډول لنډمهالی کورسونه تعقیب کړی. التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کېلری چې په مختلفو برخو کې لنډمهاله مسلکې او علمی کورسونه په لاره واچوی ترڅو له یو طرفه د زیات شمیر مینوالو تنده خړوبه کړی او له بل اړخه د مؤسسې لپاره د یوی عایداتی منبع په توګه تری کار واخلی او د یادی مؤسسې د لا پیاوړی کولو او بنسټیزو پروګرامونو کېتری ګټه پورته کړی.

- **علمي مجله**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د عوایدو بله سرچینه د (التقوی علمي مجله) کې د نورو پوهنتونو، لوړو زده کړو مؤسساتو او علاقه لرونکو اشخاصو علمي څیړنو او مقالو نشر دی چې د هرې مقالې یا څیړنې د نشر په مقابل کې (۲۵۰۰) افغانۍ اخیستل کیږي.

## څلورم مبحث: نړیوال فعالیتونه

لکه څرنګه چې نن ورځ د معاصرو علومو او ټکنالوژۍ په رامنځته کېدو سره نړۍ د یوه کلي په توګه پیژندل شوي، نو موږ د ملي اړیکو ترڅنګ نړیوالو اړیکو او فعالیتونو ته هم اړتیا لرو چې د نړۍ د معتبرو تحصیلي بنسټونو سره روابطو ټینګ کړو ترڅو د هغوی د تجاربو، پرمختګونو، امکاناتو او داسې نورو څخه استفاده وکړو او خپلې تجربې او امکانات له هغوی سره شریک کړو، التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلونکي کې لاندې نړیوال فعالیتونه ترسره کړي:

- **د توامیتونو رامنځته کول**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د توامیتونو او هوکړه لیکونو د حفظ او پراختیا لپاره لاندې اقدامات ترسره کوي:

- التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د نړیوالو اړیکو پراختیا او د توامیتونو د ایجاد او انکشاف لپاره د بهرنیو اړیکو کمېټه ایجاد کړې چې په رأس کې یې د مؤسسې رئیس قرار لري.
- د مؤسسې رئیس د توامیتونو د رامنځته کېدو په برخه کې ټول امکانات او فرصتونه له منسوبینو سره شریک کوي تر څو په ګډه د یو واحد تصمیم په اساس توامیتونو رامنځته شي.
- د مؤسسې رئیس د توامیتونو د اغیزمنتوب تر څنګ له ایجاباتو او شرایطو سره سم د توامیتونو له تطبیق څخه د نظارت مسؤلیت هم پر غاړه لري.
- **په نړیوالو سیمینارونو، کانفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه دې ته ژمنه ده چې د خپلو علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلانو د ظرفیت لوړنې لپاره هغوی حضوري او انلاین سیمینارونو، کانفرانسونو او ورکشاپونو ته معرفي کړي ترڅو د نړیوالو تجاربو څخه برخمن شي.

- **د بهرنیو علمي کادرونو څخه استفاده**

مؤسسه په راتلونکي کې پدې اړوند کار کوي ترڅو وکولای شي چې په انلاین شکل د نړۍ یا سیمې هیوادونو علمي کادر غړو څخه په مختلفو برخو کې لکه تدریس، ظرفیت لوړونې او څېړنې په برخه کې استفاده وکړي.

## پنځم مبحث: په ټولنه کې ونډه اخیستل

ټول تحصیلي نهادونه چې تحصیلي خدمات وړاندې کوي د ټولنې د پرمختګ لپاره دي که هغه تدریس وي، که څېړنه وي، که د ظرفیت لوړونې پروګرامونه وي، که تحصیلي نصاب او یا هم نور فعالیتونه وي، التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د ټولنې په مهمو مسایلو او ستونزو د حل لپاره څېړنې وړاندې کوي او علمي مقالې نشروي، ددې ترڅنګ په ټولنه کې د کار د بازار په مقتضی تحصیلي نصاب کې وخت په وخت تعدیلات راولي او د ټولنې د پرمختګ لپاره ځینې نور اړین فعالیتونه ترسره کوي. لکه: دعوت او ارشاد، د ظرفیت لوړونې او عامه پوهاوی سیمینارونه، ورشکاپونه، کانفرانسونه، په رسنیزو

بحثونو کې ګډون، سپورټي او فرهنګي برنامې، د تاریخي او ملي ورځو لمانځنه، خیریه فعالیتونه او داسې نورو برخو کې فعاله ونډه لري.

- **دعوت او ارشاد**

دا چې الحمدلله افغانستان یو اسلامي هیواد دی، نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه خپل ځان دیني ارزښتونو او د هغې زده کړو ته ژمن بولي او دا خپل مسؤلیت ګڼي ترڅو محصلان او هیوادوال مو دیني ارزښتونه وپیژني او په خپل ځان او ټولنه یې علمي کړي ترڅو ټولنه مو انسانیت او شرافت پر لور روانه شي، نوپه همدې اساس مؤسسې په خپل تشکیل کې د اسلامي ثقافت او دعوت او ارشاد امریت ایجاد کړی چې چارې یې د یادې مؤسسې علمي کادر غړي او علماء پرمخ وړي نوموړی امریت لاندې چارې پرمخ وړي:

1. د ټولنې خلکو لپاره د دعوت او ارشاد ریاست سره په همغږۍ په ټولنه کې د هر منکر په وړاندې د دعوتي پروګرامونو جوړول.
2. د ټولو دیني او ثقافتي ورځو لمانځل او د نوموړو پروګرامونو نشرول.
3. استادانو، اداري کارکوونکو محصلانو ته د دعوت، ارشاد او اسلامي ثقافت اړونده موضوعاتو په اړه علمي کانفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول.
4. استادانو، اداري کارکوونکو او محصلانو ته د آمر بالمعروف او نهی عن المنکر په اړه د برنامو دایرول.

- **فرهنګي برنامې**

دا چې د فرهنګي فعالیتونه له یوې خوا د محصلانو علمي سویې او جرئت په لوړولو کې هم رول لري بله بلې خوا محصلان کولای شي چې د هیواد ملي او دیني ورځو، تاریخ، مشهورو اشخاص، فرهنګ، دود، او داسې نورو په اړوند معلوماتو ترلاسه کوي، نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د فرهنګي چارو پرمخ وړلو لپاره د مؤسسې په کچه فرهنګي کمیټه لري چې په تشکیل کې یې د مؤسسې علمي کادر غړي، محصلان او د نشراتو مدیریت څخه یوتن غړیتوب لري چې مختلف فرهنګي فعالیتونه ترسره کوي، مؤسسه ددې چارو د لاانکشاف لپاره غواړي چې د پوهنځیو په کچه هم یادې کمیټې ایجاد کړي ترڅو فرهنګي فعالیتونه په ښه شکل باندې مخ ته لاړ شي.

- **سپورټي برنامې**

دا چې له یوې خوا ورزش د صحت ضامن دی او له بلې خوا د محصلانو په روح و روان باندې مثبت تأثیرات لري نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه هم د کرکټ او ولیبال فعال ټیمونه لري چې هر کال خپل منځي ټورنمنټونه ترسره کوي او ددې ترڅنګ بیروني لوبو او ټورنمنټونو کې هم ونډه اخلي، مؤسسه دې ته ژمنه ده چې په راتلوونکي کې دې برخې ته نور هم انکشاف ورکړي.

- **د فساد، اعتیاد، تاؤتریخوالي او تعصباتو سره مبارزه:**

هر نوعه فساد (اداري، مالي، اخلاقي) ، اعتیاد ، تاؤتریخوالی او تعصبات هغه څه دي چې ټولنې مادي او معنوي ارزښتونه له منځه وړي پس التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه دد ې بدمرغیو په خلاف مبارزه خپل مسؤلیت ګڼي، مؤسسې د پورته بدمرغیو د مخنیوي او عاملینو سره د قانوني چلند په موخه کمیټې ایجاد کړي تر عاملینو یې تر پوښتونو او ګرویګنو لاندې راولي او د تخلف د تشخیص په صورت کې متخلفینو باندې مختلې مؤیدې چې قوانینو او مقرراتو ذکر کړي تطبیق کړي. ددې لپاره چې دغه بدمرغي نور هم محار شوي وي مؤسسه ژمنه ده چې په راتلوونکي کې مختلفې د عامه پوهاوې برنامې په لاره واچوي.

- **په ټولنه کې د بې بضاعته او اسیب پزیره خلکو لاس نیوی**

التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه دې ته ژمنه ده چې په ټولنه کې د بې بضاعته او اسیب پزیره خلکو لاس نوی وکړي، لکه:

1. د لوړو زده کړو ته د بې بضاعته خلکو د لاس رسي په موخه په عام ډول مناسب فیس، د ټولنې ځینو ځانګړو اقشارو لکه معیوبینو ځینو اناثو ته وړیا سکالرشیپونه او داسې نور.
2. په ځانګړو ورځو لکه د روژې مبارکه میاشت، اخترونه او داسې نورو کې د ټولنې بې بضاعته اشخاصو سره مالي مرستې.
3. د ټولنې د طبعي افاتو ځپلو، جنګ ځپلو، بې ځایه شویو او داسې نورو اقشارو سره مالي او معنوي مرستې.
4. د ټولنې په خیریه کارونو کې ونډه اخیستل.

- **په رسنیزو بحثونو کې برخه اخیستل**

التقوی د لوړو زده مؤسسې علمي کادر غړي او محصلان د دیني، سیاسي، حقوقي، اقتصادي، ټولنیزو او داسې نورو برنامو کې د نظر د څرګندولو او د ټولنې د خلکو اګاه کولو په موخه وخت په وخت ګډون کوي او په نوموړو موضوعاتو علمي بحث کوي ترڅو راولاړې شوي ستونزې حل شي.

# څلورم فصل

## ښه حکومت ولي، رهبري، مالي و اداري او زيربناوې

### لومړی مبحث: ښه حکومتولي

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د ښې حکومتولۍ په برخه کې لاندې موارد ته ځانګړې پاملرنه کوي

- **د فساد کموالی او روښتيا**

د فساد کموالي او روښتيا د رامنځته کولو لپاره بايد په لاندې مواردو باندې کار وشي:

- **د اداري د پيچلو تقنيني اسنادو او کړنلارو سمون او رغونه**

د اداري غير ضروري او پيچلي تقنيني اسناد، مقررات او پروسېجرونه چې اکثره وخت د فعاليتونو او کارونو لپاره د خنډ او ځنډ سبب ګرځي اداري فساد ته لاره هواروي، نو له همدې کبله د التقوی لوړو زده کړو مؤسسه تل هڅه کوي خپلې ټولې چارې پداسې ډول عيار کړي چې د موسسې خدماتو ته لاسرسی د ټول برخه لرونکو (Stakeholders) لپاره اسانه او اداري پروسېجرونه د امکان تر حده لنډ وي.

- **د عامه پوهاوي کچه لوړول**

څرنګه چې اقتصادي غربت او تعليمي فقر د فساد د رامنځته کېدو دوه خورا بنستيز عوامل دي، په ځانګړې توګه تعليمي فقر، د ټولنې په ټولنيز، اقتصادي، سياسي او کلتوري ژوند باندې د فساد د ناوړه اغېزو په اړه د عامه پوهاوي لوړول د اداري فساد لپاره د مخنيوي يوه غوره لاره ده.

- **د اداري سيستم اصلاح او سمون**

په مؤسسه کې د اصلاحاتو پلي کول لکه بوديجه جوړونې سيستم ښه کول، مؤثر مالي مديريت، د تدارکاتو سيستم روښتيا او موثره مالي سيستمونه او داسې نور کولی شي د فساد په کمولو کې اغيزمن وي، دا اصلاحات بايد وشي کړاي ترڅو په پريکړه کولو کې د کارمندانو ځانګړې ځواک منځلاري کړي، د محصلينو او کارمندانو مستقيم ارتباط کنترول کړي، د کار سرعت زيات کړي، او د کارمندانو او پيرودونکو ترمينځ اوږدمهاله اړيکو چې فساد ته لاره هواروي مخه ونيسي.

- **د استخدام پروسې روښتيا او فساد مخنيوی**

کې ورتيا او شايستګي په پام کې ونه نيول شي يا تبعيض وشي او يا روابط پر ضوابطو حاکم شي. او د نويو کارمندانو په ګمارنه اود شته کارمندانو په ارتقا پروسو کې فساد ته لاره هواره شي.

### ◻ د کارمندانو معاشونه او امتيازاتو سمون

څرنګه چې څېړنو ښودلي چې د اداري سرغړونو او فساد يواځينۍ ريښه اقتصادي ګټې ترلاسه کول دي، نو طبيعي ده چې د کارمندانو اقتصادي وضعيت ښه کول به د اداري فساد په کنټرول مخنيوي کې رغنده مرسته وکړي.

### ◻ څارنه او تفتيش کول

د ټولو کارمندانو د فعاليتونو څخه دوامداره څارنه او نظارت کولای شي د فساد په مخنيوي کې مرسته وکړي. د موسسې د مالي چارو او بوديجې کنټرول کمېټه به د مالي پلان او بوديجې د پلي کېدا څخه څارنه او تفتيش کوي، د يادې چارې د ترسراوي لپاره به کمېټه په ربعوار ډول ناستې ترسره کوي او د اسنادو او شواهدو له کتو او ارزونې څخه وروسته به اړوندو برخو ته به لازم هدايات کوي، او همدارنګه که په ياده برخه کې کومه ستونزه موجوده وي د حل لارې به ورته لټوي.

او همدارنګه به د موسسې عملياتي سلاکار او فساد ضد کمېټې مشر د مالي سيستم داخلي تفتيش کوي، او د هر کال په پای کې به يوه بهرنۍ اداره ددې لپاره ګمارل کيږي چې دموسسې د مالي سيستم تفتيش وکړي.

### ◻ د اداري فساد پر ضد کمېټې رامنځته کول

څرنګه چې پورته ذکر شول د موسسې د ټولو کارمندانو د کړنو او فعاليتونو څارنه بايد وشي او سرغړونو او فساد کولو له امله مجازات او د ادارې د اصولو له مخې قانوني چلند ورسره وشي، نو التقوي د لوړو زده کړو موسسې په همدې موخه د فساد پرضد د مبارزې ځانګړې او باصلاحيته کمېټه رامنځته کړې او ترڅو د ادارې په ټولو برخو کې د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي او مخه يې ونيسي.

### • د ځواب ورکونې روحې پياوړتيا

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې هر نوعه ځواب ورکونې ته ژمن او دغه روحيه لا پياوړې کوي نو د همدې لپاره د اکاډميکې آزادۍ پاليسۍ يې رامنځته کړې ترڅو په اساس يې محصلان وکولای شي چې د اکاډميکې آزادۍ له مخې پوښتنې مطرح او ځوابونه ترلاسه کړي او له بلې خوا مؤسسې د ځواب ورکونې لپاره ځانګړې شميره رامنځته کړې.

## دوهم مبحث: رهبري

د التقوی د لوړو زده کړو خصوصي موس سې اداري جوړښت د رهبرۍ په راس کې د موسسې رییس، علمي او اکاډمیکو، مالي او اداري او د محصلینو چارو مرستیالان قرار لري. د دې تر څنګ، مؤسسه د دوه پوهنځیو په لرلو سره د ۴ بېلا بېلو څانګو لرونکې ده ، چې د اړوندو رییسانو، مرستیالانو او څانګو آمرینو لخوا اداره کېږي. همدارنګه، مؤسسه مختلفې کمېټې لکه (د کیفیت تضمین، څېړنې، تحصیلي نصاب، د خپرونو او فرهنګي چارو، پلان او پالېسۍ، د بهرنیو اړیکو او مرستودجذب، نظم او ډسپلین، ، ازموینو، د برېښنايي زده کړو) ، چې ځانګړې کاري لایحې لري، دیادونې وړ ده ، چې د پوهنځیو په کچه هم یو شمېر کمېټې شتون لري. ددې سر بېره د چارو د ښه سمبالښت په موخه یو شمېر امریتونه او مدیریتونه هم فعالیت کوي لکه: د تضمین کیفیت امریت، د استادانو او تدریساتو امریت همدارنګه د بشري سرچینو، مالي،اداري، کارمونډنې،حفظ او مراقبت، تدارکاتو، جنډر، د شمېرنې(احصایې)، بدني روزنې، کتابتون، معلوماتي ټکنالوژۍ، د معلوماتو د ثبت، د جدید الشمولانو او فارغانو مدیریتونه او ددې ترڅنګ د لنډ مهاله پروګرامونو مدیریت لرونکې ده، ترڅو دا باوري کړي، ، چې د موسسې اړونده ټولې چارې په معیاري او علمي توګه پر مخ ولاړې شي. د موسسې، پوهنځیو، څانګو او د کمېټو د کارونو د ښه پرمختګ په موخه د موسسې مرستیالان، د پوهنځیو رییسان او د کمېټو مشران په دوامداره توګه څارنه کوي؛ ترڅو یقیني کړي، ، چې ټولې چارې په اغېزناک ډول پرمخ روانې دي. د موسسې ریاست په پام کې لري، ، چې د لاګټورتوب په پار نورې لازمې کړنې هم ترسره کړي، نو دا بهیر تل څاري.

## درېیم محبث: مالي او اداري

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د مالي او اداري چارو د ښه پر مخ بیولو لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کوي.

- **مالي استقلالیت**

مالي خپلواکي د کاري حجم ، لوړ مالي او اداري ظرفیت ، او تخصصي او تخنیکي وړتیاو په نظر کې نیولو سره په هغه پوهنتونو کې په تدریجي ډول او په مرحلوار ډول پلي کیږي چې ځانګړې بودیجه لري.

د التقوی لوړو زده کړو موسسې مالي او اداري چارو معاونیت د موسسې تشکیلاتي جوړښت په نظر کې نیولو او د اړتیا پر اساس د معاونیتونو، پوهنځیو، آمریتونو او مدیریتونو لپاره د مالي خپلواکۍ ځانګړې جوړښت رامنځته کړی.

د التقوی لوړو زده کړو مؤسسه پورتني اصل ته په کتو سره هر کال د موسسې ټولو برخو ته د نیډ بیس اسسمنټ پر اساس ځانګړې بودیجه ټاکي او د هغوي په واک کې یې ورکوي ترڅو د یادو برخو پلان شوي فعالیتونه د خنډ او ځنډ سره مخ نشي.

د مالي خپلواکۍ د رامنځته کولو سره به د موسسې مختلفو برخو کې په لاندې ډول تغیرات را منځته شي:

د موسسې دواړو پوهنځیو ته به د بودیجې د لګښت اجرائیوي واک ورکړل شي: د موسسې دواړو پوهنځیو ته د هغوی د اړتیاوو په نظر کې نیولو پر اساس بودیجه ځانګړې شوې او د لګښت اجرایوي واک یې هم ورکړل شوی چې د پوهنځیو ټول فعالیتونه او اړتیاوې پکې منعکسې او په پام کې نیول شوي لکه: علمي سیرونه، عملي او علمي برنامې، بشري سرچینې، قرطاسیه،علمي څېړنې، دفتري وسایل، معلوماتي تکنالوژۍ اړوند وسایل، پراختیایي فعالیتونه او داسې نور...

د موسسې ټولو آمریتونو او مدیریتونو ته به د ځانګړې شوې بودیجې د لګښت واک ورکړل شي. همدارنګه د نیډ بیس اسسمنټ له لارې د موسسې د ټولو آمریتونو لپاره د بودیجې د اړتیا ارزونه وشوه او د موسسې د موجوده منابعو او امکاناتو په نظر کې نیولو سره ورته یو کلنه او پنځه کلنه بودیجه ځانګړې او اجرایوي واک یې ورکړل شو

- **اداره او مدیریت**

التقوا د لوړو زده کړو مؤ سسه غواړي په راتلونکو پنځو کلونو کې خپلو فعالیتونو ته په کتو سره د خپل کاري ځواک شمیر زیات کړي او وړ او با استعداده کارکوونکي وګماري، او همدارنګه د ټولو کارکوونکو ته د هغو په مربوطه ساحو کې د ظرفیت لوړونې پروګرامونه په لاره واچوي چې پدې کې د موسسې دننه او بهرني روزنیز پروګرامونه شامل وي.

## څلورم مبحث: زېربناوې

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د اکاډمیکو او اداري فعالیتونو د ښه ترسراوي لپاره د معیاري او مجهزې ودانۍ لرونکې ده لکه اداري خونې، تدریسي خونې، کتابتون، کمپیوتر لیب، مسجد شریف، د غونډو تالار، د استادانو لپاره ځانګړې لیلیه، روغتیایي او حقوقي کلینکونه ، چې استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو ته پکې لاژمې اسانتیاوې برابرې شوي.
التقوا د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري چې د مؤسسې د لاغښتلتیا او محصلانو ته د غوره چوپړتیاوو د وړاندې کولو په پار لاندې زیربناوو ته وده او انکشاف ورکړي :

- **د مؤ سسې لپاره د ځمکې رانیول او د معیاري ودانیو جوړول:**

دا چې د التقوا لوړو زده کړو مؤسسه په یو کرایي کور کې فعالیت کوي، کوم چې په اوسني وخت کې هم د مؤسسي د فعالیت، زیاتو محصلینو د جذب او د انکشافي کارونو د پر مخ بیولو لپاره بسنه

نه کوي، نو د مؤسسی رهبري په پام کې لري چې د ښار په یوه مصؤنه او په اسانه ډول د لاسرسي وړ ساحه کې د مؤسسې لپاره شخصي ځمکه وپیري او د مؤسسې ټولې برخې د معیار سره سم د پوهنتون په شکل ګټې اخستنې ته وسپاري، کوم چې به سمبال او د معیار سره سم تدریسي او اداري خونې او ټول امکانات ولري، دا به نه یواځې د مؤسسې په تعلیمي برخه مثبته اغیزه ولري بلکه د نورو زېربناوو د انکشاف لپاره به هم دروازې پرانیزي.

- **د نویو پوهنځیو را منځته کول**:

دا چې د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه اوس یواځې دوه پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم او اقتصاد پوهنځي) لري، نو د مؤسسې رهبري شپه او ورځ هلې ځلې کوي تر څو د لوړو زده کړو وزارت څخه د نویو پوهنځیو د رامنځته کولو لپاره موافقه ترلاسه او خپل ظرفیت ته په کتو سره څو نوي پوهنځي رامنځته کړي او همدارنګه د مؤسسې ته د مؤسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع ورکړي.

- **د لوبو لپاره مناسبه ساحه جوړول**:

لکه مخکې چې وویل شول التقواي دلوړو زده کړو مؤسسه په یوه کرایي کور کې فعالیت کوي چې ساحه یې حتی د تدریسي فعالیتونو لپاره هم کمه ده، د مؤسسې رهبری ددې په لټه کې ده تر څو د مؤسسې لپاره شخصي ځمکه وپیري او نوي ودانۍ پکې اباده کړي، همدارنګه په پام کې ده چې د محصلانو لپاره د لوبو یوه منظمه او مناسبه ساحه جوړه شي، تر څو د محصلانود فکري ستړتیا په رفع کولو کې ورسره مرسته وشي.

- **د وسایطو لپاره منظم تم ځای جوړول**:

د مؤسسې رهبري په پام کې لري چې د مؤسسې په نوي ساحه کې د محصلانواو کارکوونکو د موټرو لپاره خوندي او منظم تم ځای جوړ کړي، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې موټر د هر ډول خطر څخه خوندي او مصؤن دي.

- **د نویو پوهنځیو را منځته کول**

دا چې د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه اوس یواځی دوه پوهنځي (حقوق او سیاسس علوم او اقتصاد پوهنځي) لري ، او لکه مخکې چې وویل شول د یادو پوهنځیو څخه ترلاسه شی عایدات د تحصیلي مؤسسې د لا پرمختګ لپاره کافي او پوره ندي، له بلې خوا په مارکیټ کې د نویو پوهنځیو لپاره په پراخه کچه غوښتنه او تقاضا موجوده ده نو نوموړو عواملو ته په کتو سره التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي تر څو د محصلانود غوښتنو او علاقې په پام کې نیولو سره څو نور پوهنځي هم تأسیس او ایجاد کړي، تر څو له یوې خوا د مارکیت غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي او له بله اړخه ترې د یوې عایداتي سرچینې په توګه ګټه واخلي.

# پنځم فصل

# علمي برنامې او لوړو زده کړو ته لاس رسی

## لومړی مبحث: علمي برنامې

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د علمي او تحقیقي برنامو په لړ کې لاندې فعالیتونه تر سره کوي.

- **د درسي موادو تقویه**

نن ورځ د نړۍ تحصیلي مؤسسې په دې هڅه کې دي چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپلو علمي پروګرامونو د کریکولمونو د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، چې د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره وکولای شي چې له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکېلو خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب وواییچې پایله به یې د مربوطه مؤسسه د لوړې درجې او باور تر لاس کول وي. التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکو پنځه کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونیزو موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- ☐ د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کریکولم کمېټې چارو ته پراختیا ورکول
- ☐ د کریکولم کمېټې کړنې د نویو مېتودونو سره همغږې کول
- ☐ په پوهنځیو کې د نصاب او کریکولم کمېټې چارو ته ځانګړې پاملرنه او پراختیا ورکول
- ☐ د درسي موادو د پیاوړتیا په موخه د علمي کادر غړیو د تالیفاتو چارو ته خاصه توجه کول په دې برخه کې د هغوی هڅونه
- ☐ د پي ډي سي مرکز د دفتر فعالول او په کې د چارو ښه اجرا په موخه د وړ اشخاصو ګمارل
- ☐ د مؤسسه د علمي کادر غړو لپاره د هېواد په داخل او له هېواده بهر د روزنیزو پروګرامونو برابرول

- **اکاډمیکه ازادي**

- ☐ التقوي د لوړوزده کړو مؤسسه اکاډمیکې آزادۍ ته ژمنه ده
- ☐ د علمي کادر هر غړی او محصلان حق لري چې د قوانینو په چوکاټ کې څېړنې، وینا او لیکنې د هر ډول ډار پرته وکړي.

- مؤسسه د علمي کادر غړو او محصلانو څېړنې چې ټولنې ته خطر نه وي نشروي.
- مؤسسه هیڅ سیاستمدار او استاذ ته اجازه نه ورکوي چې خپل نظریات او عقاید په محصل تحمیل کړي.
- مؤسسه د علمي کادر غړو او محصلانو منطقي او مستدللو نظریاتو ته درناوی کوي چې د اداري د پالیسو په وړاندې یې لري.
- علمي کادر غړي او محصلان حق لري چې د خپلو حقوقو تلف کېدو په مقابل کې د متخلف په مقابل کې جبران د خسارې وغواړي.
- استاذان حق لري چې د یو مضمون په محتوی کې د کار د بازار د اړتیا په نظر کې نیولو سره تعدیل کړي.
- استاذان او محصلان د منطقي استدلال حق لري.
- آزادي د محصل نمرو چې دهغې د پارچې د لیدو او استعداد په اساس د تبعیض او تعصب پرته حمایت کوي.
- استاذ کولای شي چې موضوع ته په کتو میتود وټاکي.
- محصلین حق لري چې د هغه تصمیمونو په وړاندې چې دوي ترې اغیزمن کېږي خپل نظر څرګند کړي.
- محصلین حق لري چې نظم او ډسپلین کمېټه کې غړیتوب ولري او کمېټې د روښتیا څخه ځان خبر کړي.
- محصلین حق لري چې د استاذانو په ارزونه کې برخه واخلي.
- د محصلینو د هغه نظریاتو، څرګندونو او انځورونو څخه ملاتړ نه کېږي چې نافذه قوانین تر پښنو لاندې کوي.
- د علمي کادر غړو د هغه غړو څخه حمایت نه کېږي چې یواځې درسي مکلفیت ترسره کوي او په نورو چارو کې برخه نه اخلي.
- علمي کادر غړو او محصلانو ته اجازه نشته چې د چا توهین، تحقیر، توبیخ، تهدید او ازار و اذیت کړي.
- آزادي د استاذ هغه حق ته چې پر محصل درس زده کوي او تمرین کوي صدمه نه رسوي.

- هغه استاذ چې په درس تسلط نلري او ناشایسته وي د دایمي پاتې کېدو حق نلري.
- د علمي کادر غړي د محاکمې د شفافیت او د هغه دلایلو څخه چې دده په ضد کارول کېږي د ډاډ ترلاسه کولو حق لري.
- د علمي کادر غړو د غیرقانوني او غیر اصولي نظریاتو په اړوند تر پوښتنې لاندې نیول کېږي.
- د محصلین او علمي کادر غړو نظریات په میډیا او مجالسو کې شخصي دي د مؤسسې استازیتوب نشي کولای مگر دا چې د مؤسسې په نمایندگۍ لیږل شوی وي.

### د کیفیت اعتبارنامې او تصدیق نامې

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- د ملي او بین المللي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل
- په ملي او بین المللي کچه د مؤسسه د خدماتو کیفیت او درجې لوړول
- د کیفیت د تضمین او لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټیم رامنځته کول
- په ټولنه کې د مؤسسه د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل
- په مؤسسه کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول
- د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول
- د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو مؤسسهونو او تحصیلي موسسو سره همغږي
- په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه گټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول
- د مؤسسه د ستراتیژیکو موخو د تحقق لپاره له اړوندو پوهنځیو او څانگو سره همغږي
- د روزنیزو پروگرامونو پیاوړتیا او عامول
- محصیلنو، اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوي ورکول

### د علمي کادر ظرفیت لوړول

د علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي گڼل کېږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بیلابیلې مادي او معنوي سرچېنې رامنځته او ورڅخه موثره گټه پورته کوي. پر همدې اساس، التقوی د

لوړو زده کړو مؤسسه د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

- د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونو کې د زده کړو زمینه برابرول.
- د شتو مسلکي او منلو کادرونو څخه د مؤسسه په پرمختیایي او روزنیزو چارو کې ګټه پورته کول
- مؤسسې پرسونل ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټریننګونو فرصتونونو برابرول
- د مؤسسه د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه.
- د پوهنځیو ریيسان او د مختلفو څانګو مشرانو د غوره او پیاوړې مؤسسې اداري ستراتیژۍ طرحه کولو لپاره رهبري کول .
- مؤسسې تدریسي غړیو ته د اروا پوهنې نوېو لارو چارو په اړه روزنه ورکول او هم د زده کړې د معاصرو تخنیکونو برابرول
- اداري مدیران په هغه مهارتو روزل او سنبالول چې د کارونو د ښه پرمخ بیولو وړتیا ترلاسه کړي .
- په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول.
- د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل.
- د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتیاوو برابرول.
- تدریسي غړو ته د انګریزي او نورو بهرنیو ژبو د روزنې اسانتیا برابرول.
- پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتیاوو برابرول
- **په عصري وسایلو سمبال مجهز کتابتون**:

دا چې سمبال او مجهز کتابتون د محصل په روزنه او پرمختګ کې رغنده رول لوبوي التقوا د لوړو زده کړو مؤسسه که څه هم په اوس وخت کې د یوه تقریباً مجهز کتابتون لرونکې ده غواړي یادې زېربنا ته لا وده ورکړي او د ټولو محصلانو لپاره د پرلیکه (آنلاین کتابتون) چوپړتیاوې برابرې کړي او ټول هغه کتابونه چې محصلان ورته ضرورت لري پوره او هغوی ته هم په کتابتون او هم د آنلاین له لارې په واک کې ورکړي.

## دوهم محبث: لوړو زده کړو ته د وګړو لاسرسی :

زده کړه د ټولنې د هر وګړي بنسټیز حق دی،د هېواد د اساسي قانون له مخې ټولو وګړو ته له هر ډول توپیر پرته د لېسانس تر کچې لوړې زده کړې د دولت لخوا په وړیا توګه د پوهنتونو لخوا وړاندې کېږي، خو د لېسانس څخه پورته لوړې زده کړې بیا وړیا نه دي او یو اندازه لګښت پرې راځي. په دې وروستیو

کې د دولتي پوهنتونو ترڅنګ یو شمېر خصوصي پوهنتونه او د لوړو زده کړو موسسې هم د هېواد ځوان نسل ته د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې، چې په لړ کې التقوی د لوړو زده کړو موسسې هم له تېرو اتو کالو را په دېخوا د لوړو زده کړو په برخه کې هېوادوالو ته علمي خدمتونه وړاندې کوي.

# شپږم فصل

## د مؤسسې ستراتیژیکې موخې

د ستراتېژیک پلان مهمه برخه د لاسته راوړنې وړ موخو ټاکل جوړوي، چې هر تحصیلي بنسټ په ټاکلې موده کې یې د ترلاسه کولو لپاره د پلان سره سم مخته ځي، التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه هم هوډ لري، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې موخې ترلاسه او د ټولنې په پرمختګ کې خپل رول یقیني کوي:

### لومړۍ موخه: د ځمکې اخیستل او تعمیر جوړول

التقوی د لوړو زده کړو موسسې اداره په پام کې لري، چې د تحصیلي او څېړنیزو چارو د تنظیم او ښه والي په موخه د جلال آباد ښار په لومړۍ ناحیه کې خپله شخصي ځمکه وپېري او په نوموړې ځمکه کې تدریسي، څېړنیزې، اداري ودانیو ترڅنګ کیفټریا، کانفرانس حال، د شوراګانو حال، مرکزي او فرعي کمپېو دفترونه، د مسلکي پرمختیا دفتر او حال، مسجد شریف، د اودس ځایونه، تشنابونه، د ښځینه محصلانو تفریح ځای، د نارینه محصلانو تفریح ځای، د لوبو میدان، چمن او باغچه، پارکینګ، کمپیوټر لیب، حقوقي او صحي کلنیکونه او داسې نور ضروري تأسیسات پکې په منظم شکل نقشه د یو فني شخص لخوا نشقه بندي او عملاً ودانۍ جوړه کړي.

### دوهمه موخه: د عوایدو انکشاف د مختلفو لارو

داچې خصوصي تحصیلي مؤسسات شخصي مصرفي اداري دي چې ټوله سرمایه کذاري او مصارف د هیواد بارسوخه او په وطن مئینو اشخاصو لخوا کېږي نو ددې سرمایې د ساتلو، مصارفو د اجراء او د یادې تحصیلي مؤسسې د بقاء لپاره د عوایدو انکشاف ته اړتیا ده چې التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري چې په راتلوونکي کې د عوایدو مختلف کانالونه فعال او تقویه کړي لکه د محصلانو فیس، علمي مجله کې د مقالو نشر، په مختلفو سیمینارونو او ورکشاپونو وړاندې کول، د څېړنیزو پروژو پرمخ وړل او داسې نور. د نوموړو چارو د ښه تنظیم لپاره پنځه کلن انکشافي پلان ترتیبیږي.

**درېیمه موخه: بیړنیو حالاتو ته د بودیجې ځانګړې کول**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري ، چې د بیړنیو حالاتو لپاره هره میاشت د ناخالصه عوایدو څخه 5% بودیجه زیرمه کړي، ترڅو وتوانیږي چې خپلې تولې اکاډمیکې او ادارې چارې په هر نوعه حالت کې په عادي شکل پرمخ یوسي او چارې د خنډ او ځنډ سره مخ نشي.

**څلورمه موخه: د علمي مجلې بشپړ اعتبار ترلاسه کول**

دا چې د علمي څېړنو ترسره کول او دهغې نشرول په اکاډمیکو ادارو کې یو لازمي امر دی نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلوونکي د علمي مجلې بشپړ اعتبار ترلاسه کړي ترڅو د خپلو استادانانو، محصلانو او نورو ښکیلو خواؤ علمي مقالې په یوه بشپړ اعتبار لرونکي مجله کې نشر کړي.

**پنځمه موخه: د علمي څېړنو وده او انکشاف**

څېړنې د انساني ټولنې د ستونزو او ضرورتونو حل یواځینی مرجع ده، کله چې یوه ستونزه په ټولنه یا یوه اداره کې ولیدل شي نو د هغې د حل په موخه باید متحصصین لاس پکار شي ترڅو د ټولنې یا ادرو ستونزې حل شي، همدې موخې ته د رسېدو په پار التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د یوې پوښتنپاڼې یا نظر سنجۍ له مخې د ټولنې او ادارو ستونزې په ګوته او د حل په موخه یې د مؤسسې متحصصینو او مسلک خاوندانو ته وړاندې کړي ترڅو په نوموړو موضوعاتو څېړنې ترسره او ستونزو ته د حل لارې چارې ولټوي. د څېړنیزو چارو د ښه تنظیم لپاره د علمي څېړنو مرکز ایجادیږي، نوموړې چارې د یوه پنځه کلن انکشافي پلان په اساس پرمخ وړل کېږي.

**شپږمه موخه: د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلانو وړتیاوې او مهارتونو لوړول**

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلونکي کې د خپلو استادانو، اداري کارکوونکو او محصلانو د وړتیاؤ او مهارتونو د لوړولو په موخه د مسلکي پراختیا مرکز او اړونده ډیپارتمنتونو په همکارۍ او همغږۍ سره د ظرفیت لوړونې مختلف ورکشاپونه، سیمینارونه او کانفرانسونه په لاره واچوي او دې موخې ته د رسیدو لپاره د مسلکي پراختیا مرکز خپل پنځه کلن انکشافي پلان جوړوي چې په نوموړي پلان کې د استادانو، برحاله او فارغانو محصلانو او ښکیلو خواؤ نظریات د یوې نظر سنجۍ له مخې اخلي او پلان ترتیبوي.

### اومه موخه: د کتابتون انکشاف او پراختیا

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلوونکي کې موجوده کتابتون ته انکشاف او پراختیا ورکړي ددې موخې د ترلاسه کولو په پار مؤسسه په پام کې لري چې د کتابتون لپاره بودیجه ځانګړې کړي، هر کال (500) جلده کتابونه وپیري، د کتابتون تجهیزات او تسهیلات پراخه کړي او برېښنایي کتابتونه رامنځته کړي چې نوموړې ټولې چارې د کتابتونه په پنځه کلن انکشافي پلان کې تنظیمیږي.

### اتمه موخه: د ملي، سیمه اېزو او نړیوالو معتبرو علمي بنسټونو سره د توامیتونو انکشاف او پراختیا

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلوونکي کې ملي، سیمه ایزو او نړیوالو علمي توامیتونو ته انکشاف او پراختیا ورکړي ددې موخې لپاره مؤسسې د بهرنیو اړیکو کمیټه ایجاد کړې چې په رأس کې یې د مؤسسې رییس قرار لري، نوموړې کمیټه د ځانګړي دفتر او بودیجې درلودونکې دی چې خپلې چارې کمیټې د پنځه کلن انکشافي پلان په اساس ترتیب او تنظیموي.

### نهمه موخه: بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کول

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلوونکي کې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې په بهیر کې بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کړي، نوموړي هدف ته د رسېدو لپاره د مؤسسې په تشکیل کې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې آمریت او اصلي او فرعي کمیټې ایجاد شوي چې په مؤسسه کې یې مشري د مؤسسې علمي چارو مرستیال او په پوهنځیو کې یې مشري د پوهنځیو مرستیالان کوي، دا چې مؤسسې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې پروسې دوهم پړاؤ په بریالیتوب سره پاس کړی، په راتلوونکي کې مؤسسه غواړي چې درېیم پړاؤ ته کاندید او نوموړی پړاؤ هم په بریالیتوب سره پاس کړي نو ددې چارې د ترسره کېدو په موخه باید د پوهنځیو د ډیپارتمنتونو په کچه چارې ترسره شي د نوموړو چارو د ښه تنظیم او تعقیب په موخه د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې امریت خپل عملیاتي پلان ترتیبوي.

### لسمه موخه: د لېسانس او مافوق لېسانس نویو برنامو ایجاد

مؤسسه غواړي چې د بشپړ اکاډمیک اعتبار د ترلاسه کولو په صورت کې د معالجوي طب او د کمپیوتر ساینس پوهنځي ایجاد کړي او ددې ترڅنګ د حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد په پوهنځیو کې د ماسترۍ برنامې ایجاد کړي. نوموړي هدف ته د رسېدو لپاره مؤسسه بودیجه ځانګړې کوي، د

ضرورت په اندازه تشکیلات ایجادوي، نوي تأسیسات جوړوي، متحصص، مسلکي او نوموړ برنامو ته د غوښتل شویو معیارونو په اساس علمي کادر غړي استخداموي، او د نوموړو برنامو د ایجاد ټول غوښتل شوي معیارونه بشپړوي چې نوموړو چارو د ښه تنظیم په موخه هرې برنامې ته ځانګړی عملیاتي پلان تدوینیږي.

# د استراتیژیک پلان د پلي کېدا کلنی عملیاتي پلان (۱۴۰۰ـ ۱۴۰۴هـ ش)

| ګڼه | فعالیتونه | موخې | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغېزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلې | کتنې |
| 1 | ځمکې پیرل | د اراضي څښتن کېدل | رییس/مرستیالان | 1 ناحیه | | | | | | | | | | | | | | یو کال | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۰ حوت | | |
| 2 | اداري او درسي ودانۍ جوړولو پیل | اداري او علمي فعالیتونه | رییس/مرستیالان | نوې ودانۍ | | | | | | | | | | | | | | درې کاله | ۱۴۰۲حمل | ۱۴۰۴حوت | | |
| 3 | تالار، تم ځای، مسجد، کتابتون، کېفټریا او نورو ضروري تأسیساتو جوړول پیل | محصلینته سهولت | رییس/معاونین | نوې ودانۍ | | | | | | | | | | | | | | یو کال | ۱۴۰۴ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| ګڼه | فعالیتونه | موخې | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغیزې | | | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلې | کتنې |
| 4 | د موسسې په کچه د کمپیوټر لپاره ځانګړو دفترونو جوړول | تضمین کیفیت یو معیار ښه پېژندل | رییس/علمي/اداري او مالي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | دوه میاشتې | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۰ ثور | | |
| 5 | د پوهنځیو په کچه کمپیوټر لپاره د ځانګړو دفترونو جوړول | تضمین کیفیت یو معیار ښه پېژندل | رییس/علمي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | دوه میاشتې | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۰ ثور | | |
| 6 | په موجوده تعمیر کې د درسي خونو جوړول د ضرورت په اندازه | محصلانو خدمات | رییس/اداري او مالي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | څلور کاله | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۳ حوت | | |
| 7 | په موجوده تعمیر کې د درسي او اداري خونو ترمیم د ضرورت په اساس | تحصیلي خدماتو ارایه کول | رییس، اداري او مالي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | څلور کاله | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۳ حوت | | |

| گڼه | فعالیتونه | اهداف | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغیزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلې | کتنې |
| 8 | موجوده تعمیر کې د یو معیاري غونډو تالار جوړول | د غونډو ترسره کول | رییس/اداري او مالي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | دري میاشتې | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۰ جوزا | | |
| 9 | تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې دوهم پړاؤ پاس کول | اکاډمیک اعتبار ترلاسه کول | رییس/مرستیالان/ د پوهنځي ډیپارتمنتونه او کمیټې | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | دوه کاله | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۱ حوت | | |
| 10 | تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې دریم پړاؤ پاس کول | اکاډمیک اعتبار ترلاسه کول | رییس/مرستیالان/ د پوهنځي ډیپارتمنتونه او کمیټې | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | دوه کاله | ۱۴۰۲ حمل | ۱۴۰۳ حوت | | |

| ګڼه | فعالیتونه | موخې | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغیزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلي | کټني |
| 11 | په ملي کچه استادانو او محصلانو علمي سفرونه | علمي ظرفیت لوړیدا | رییس/مرستیالان او پوهنځي | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځه کلونو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 12 | د علمي سیمینارونو او ورکشاپونو نیول او د ملي او نړیوالو ترینرانو رابلل | علمي ظرفیت لوړیدا | رییس/علمي مرستیال او پوهنځي | د غونډو تالار | | | | | | | | | | | | | | پنځه کلونو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 13 | د علمي مجلې جواز ترلاسه کول | د څیړنو او مقالو خپرول | رییس او علمي چارو مرستیال | لوړوزده کړو وزارت | | | | | | | | | | | | | | پنځه میاشتي | ۱۴۰۱ حمل | ۱۴۰۱ اسد | | |
| 14 | د علمي مجلې بشپړ اعتبار ترلاسه کول | د څیړنو او مقالو خپرول | رییس او علمي چارو مرستیال | لوړوزده کړو وزارت | | | | | | | | | | | | | | اوه لس میاشتي | ۱۴۰۱ سنبله | ۱۴۰۲ حوت | | |

| گڼه | فعالیتونه | اهداف | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | تولیدموده | اغېزي | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پاتلي | کتنې |
| 15 | د څېړنیز او مسلکي پرمختیا مرکزونو جوړول | د څېړنو پراختیا او ظرفیت لوړېد | رییس، علمي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه/اړونده اداري | | | | | | | | | | | | | | دري میاشتې | ۱۴۰۱ دلوه | ۱۴۰۲ حمل | | |
| 16 | په ملي کچه د څېړنو ترسره کول او خپرول | په ټولنه کې د ستونزو حلول | علمي چارو مرستیال | په ملي کچه مجلې او ژورنالونه | | | | | | | | | | | | | | د پنځو کالونو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 17 | په نړیواله کچه د څېړنو ترسره کول او په نړیوالو ژورنالونو کې خپرول | په ټولنه کې د ستونزو حلول | علمي چارو مرستیال | په ملي کچه مجلې او ژورنالونه | | | | | | | | | | | | | | د پنځو کالونو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| شمېره | فعالیتونه | مرجع | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | تولید موده | اغېزي | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلي | کتنې |
| 18 | په ملي، سیمه یزه او نړیواله کچه د توامیتونو رامنځته کول | د ګډو همکاریو رامنځته کول | رییس/ مرستیالان | په اړونده ساحو کې | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 19 | بېړنیو حالاتو لپاره د بودیجې ځانګړي کول | د چارو د ریډو څخه مخنیوي | رییس/اداري او مالي مرستیال | التقوی لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 20 | د حقوقو پوهنځي محصلینو عملي کارونو لپاره حقوقي کلینیک پراختیا | د محصلینو عملي کارونو پراختیا | رییس/علمي مرستیال او حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی | التقوی لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 21 | د اقتصاد پوهنځي محصلینو عملي کارونو لپاره Business incubation center رامنځته کول او هر کال پراختیا | د محصلینو عملي کارونو پراختیا | رییس، علمي مرستیال او اقتصاد پوهنځی | نوې ودانۍ | | | | | | | | | | | | | | دریو کالو جریان | ۱۴۰۲ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

48

| ګڼه | فعالیتونه | موخې | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغېزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلي | کتنې |
| 22 | د بریښنایي کتابتون رامنځته کول | د مطالعي پرمختیا | رییس/علمي/مالي او اداري مرستیال | کتابتون | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 23 | د فزیکي کتابتون پراختیا او ښځینه محصلانو ته ځانګړي ځای جوړول | مطالعي پرمختیا، ښځینه محصلان مطالعي اساتیا | علمي/مالي او اداري مرستیالان | کتابتون | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 24 | د نوي تحصلي نصاب پلي کېدا او پرمختیا | درسي پراختیا او معیاري کول | علمي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 25 | بریښنایي زده کړو پرمختیا او د سهولتونو ایجاد | درسي پراختیا او معیاري کول | علمي/ مالي او اداري مرستیالان | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| شمېره | فعالیتونه | موخې | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغیزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلې | کتنې |
| 26 | د ستهډیو رامنځته کول | برېښنایي زده کړو او فرهنګي فعالیتونو لپاره | علمي / اداري او مالي مرستیالان | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | دري میاشتې | ۱۴۰۳ حمل | ۱۴۰۳ جوزا | | |
| 27 | د معالجوي طب پوهنځي جواز ترلاسه کول | تحصیلي خدماتو او عوایدو پراختیا | رییس،مرستیال ان او اړونده پوهنځی | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | یو کال | ۱۴۰۴ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 28 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ماسترۍ برنامې ایجاد | تحصیلي خدماتو او عوایدو پراختیا | رییس،مرستیالان او اړونده پوهنځی | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | یو کال | ۱۴۰۴ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 29 | اقتصاد پوهنځي کې د ماسترۍ برنامې ایجاد | تحصیلي خدماتو او عوایدو پراختیا | رییس،مرستیال ان او اړونده پوهنځی | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | یو کال | ۱۴۰۴ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| ګڼه | فعالیتونه | موخې | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغېزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلې | کتنې |
| 30 | محصلینو ته د بدني روزنې د اسانتیاوو برابرول. | دبدني روزنې پراختیا او معیاري کول | محصلانو چارو مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 31 | اداري کارکوونکو ته ظرفیت لوړونې ورکشاپونو برابرول | اداري پراختیا او معیاري کول | رییس،علمي مرستیال | التقوی تالار | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 32 | علمي او اداري چارې د منول سیمستم څخه بریښنایي سیستم ته بدلولو پراختیا | دچارو پراختیا او معیاري کول | رییس/علمي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 32 | د موسسې ویب سایټ پراختیا | چارو پراختیا او معیاري کول | رییس،علمي مرستیال | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| ګڼه | فعالیتونه | اهداف | مسولین | د ترسره کولو ځاي | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغېزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پاتې | کتنې |
| 33 | د استادانو کلنۍ ارزونې ترسره کول | چارو پراختیا او معیاري کول | د پوهنځي رییس/ډیپارتمنت آمر/ تضمین کیفیت | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 34 | د اداري او خدماتي کارکوونکو کلنۍ ارزونه | چارو پراختیا او معیاري کول | مالي او اداري مرستیال، تضمین کیفیت | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 35 | د پوهنځیو او څانګو ارزونه | چارو پراختیا او معیاري کول | رییس/ تضمین کیفیت | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 36 | د مؤسسې د مرستیالیو ارزونه | چارو پراختیا او معیاري کول | رییس/ تضمین کیفیت | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| ګڼه | فعالیتونه | اهداف | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغیزي | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پالیي | کتني |
| 37 | د مؤسسي د ریاست ارزونه | چارو پراختیا او معیاري کول | د علمي شوری په تائید کمیټه | التقوی د لوړوزده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 38 | د عوایدو انکشاف د مختلفو لارو لکه: محصلانو فیس، علمي مجله کې د مقالو نشر، په مختلفو سیمینارونو او ورکشاپونو وړاندې کول، د څېړنیزو پروژو پرمخ وړل… | د مؤسسې د عوایدو زیاتوالی | د مؤسسې رییس / اداري او مالي مرستیال | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

| ګڼه | فعالیتونه | اهداف | مسولین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیتونو د ترسره کولو وخت | | | | | | | | | | | | ټوله موده | اغیزې | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلوه | حوت | | پیل | پای | پایلې | کتنې |
| 39 | علمي کادر غړو ته مافوق لیسانس زده کړو زمینه مساعد کول | معیاري او تخصصي زده کړو پراختیا | رییس/ اړونده پوهنځي رییسان | داخلي او بهرني تحصیلي اداري | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 40 | د مؤسسي صحي کلنیک پراختیا | معیاري صحي خدماتو عرضه | مالي او اداري مرستیال | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |
| 41 | امنیتي خوندیتوب | چارو پراختیا او معیاري کول | رییس/تضمین کیفیت | التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه | | | | | | | | | | | | | | پنځو کالو جریان | ۱۴۰۰ حمل | ۱۴۰۴ حوت | | |

# د بودیجې ټاکنه

| ګڼه | هدف | د اهدافو د ترلاسه کولو اړوند فعالیتونه | مرجع | مسئول / مسئولین | په ټاکلي کال کې د اړتیا وړ بودجه | | | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 48 | د ځمکې اخیستل او تعمیر جوړول | ځمکې پیرل، د قبالې اجراء او د تعدیل تجارتي ته، د نقشې جوړول،اداري، درسي او نورو | د مؤسسې ستراتیژیک پلان | | 61,600,000 | 32,850,000 | 32,850,000 | 32,850,000 | 32,850,000 | |
| 49 | بیړنیو حالاتو ته د بودیجې ځانګړي کول | هره میاشت د ناخالصو عوایدو څخه د بیړنیو حالاتو لپاره (1%) ځانګړی کول | د مؤسسې ستراتیژیک پلان | | 385,652 | 282,499 | 452,363 | 177,007 | 373,009 | |
| 50 | د علمي مجلې بشپړ اعتبار ترلاسه کول | د علمي مجلې د تحریر هئیت استخدام، دفتر جوړول، د دفتري وسایلو پیرل، د علمي مجلې جواز اخیستل، د علمي مجلو چاپ | د مؤسسې ستراتیژیک پلان | | | 100,000 | 100,000 | | | |
| 51 | د علمي څېړنو وده او انکشاف | د علمي څېړنو د سمون مرکز پراختیا، د علمي څېړنو اړوند سمینارونه او ورکشاپونه، د څېړنیزو مراکزو سره د تړامیتونو رامنځته کول، د څېړنو ترسره کولو لپاره هڅونه | د مؤسسې ستراتیژیک پلان | | 120,000 | 120,000 | 120,000 | 120,000 | 120,000 | |
| 52 | د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلانو وړتیاوې او مهارتونو لوړول | د مسلکي پراختیا مرکز له لارې د استادانو، کارکوونکو او محصلانو ظرفیت لوړونې اړوند د مختلفوعلمي سمینارونو او ورکشاپونو دائیرول | د مؤسسې ستراتیژیک پلان | | 60,000 | 60,000 | 60,000 | 60,000 | 60,000 | |
| 53 | د کتابتون انکشاف او پراختیا | د فزیکي کتابتون د غني کولو په موخه هر کال د (500) جلده کتابونو اخیستل، په کتابتون کې د بنځینه محصلانو مطالعې لپاره ځانګړی ځای جوړول، د ډیجیټل کتابتون رامنځنته کول، د نړیوالو معتبرو کتابتونو سره د تړامیتونو | د مؤسسې ستراتیژیک پلان | | 332,000 | 332,000 | 332,000 | 332,000 | 332,000 | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 54 | د ملي، سیمه ایزو او نړیوالو معتبرو علمي بنسټونو سره د تواميتونو انکشاف او پراختیا | د تواميتونو اړوند پالیسی تدوین، تواميتونو د رامنځته کېدو لپاره اړيکي نیول، د تواميتونو ایجاد، تطبیق او له تطبیق څخه يې نظارت | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | |
| 55 | بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کول | د کیفیت لوړوني د پروسي د دوهم پړاو چکلیست مطابق چمتوالی نیول، د دوهم پړاو په بریالیتوب سره پاس کول، د کیفیت لوړوني د پروسي د دریيم پړاو چکلیست مطابق چمتوالی نیول، دریيم پړاؤ په بریالیتوب سره پاس کول | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 250,000 | 250,000 | 250,000 | 250,000 | | |
| 56 | د لیسانس او مافوق لیسانس نویو برنامو ایجاد | د بشپړ اکاډمیک اعتبار په صورت کي د طب پوهنځي ایجاد، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي او اقتصاد پوهنځیو کي د ماستری برنامو ایجاد، د نویو تشکیلاتو رامنځته کول، د خونو جوړول | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | | | 50,000 | 100,000 | 150,000 | |
| 57 | د حقوقو پوهنځي محصلینو عملي کارونو لپاره حقوقي کلینیک پراختیا | په جزايي، مدني، تجارتي او اداري برخه کي د عملي برنامو پراختیا، تمثیلي محاکمو دائیرول | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | |
| 58 | د اقتصاد پوهنځي محصلینو عملي کارونو لپاره Business incubation center رامنځته کول او هر | په تجارتي برخه کي د علمي برنامو رامنځته کول | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | - | - | 196,000 | - | - | |
| 59 | د نوي تحصلي نصاب پلي کېدا او پرمختیا | د نوي تحصیلي نصاب تطبیق په موخه د سمینار نیول، د کورس پالیسیو ترتیب د نوي تحصیلي نصاب په مطابق، د نوي تحصیلي نصاب له تطبیق څخه نظارت | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 60 | **بریښنایي زده کړو پرمختیا او د سهولتونو ایجاد** | د سټډیو جوړول، د تدرسي ویډوګانو ثبت او په یوټیب چاینل کې نشرول، د محصلانو یوزر له لارې د درسي سلایډونو او کورنی دندې شریکول | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 30,000 | 30,000 | 30,000 | 30,000 | 30,000 | |
| 61 | **د سټډیو رامنځته کول** | د بودیجي تخصیص، د ځانګړي خوني جوړول، د لایټنګ سیمستم جوړول، د کمرو او نورو ضروری وسایلو اخیستل | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | - | - | - | 300,000 | - | |
| 62 | **محصلینو ته د بدني روزنې د اسانتیاوو برابرول.** | د کرکټ او ولیبال ټیمونو جوړول، د لباسونو اخیستل، و لوبو وسایل اخیستل، د میچونو ترسره کول | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | |
| 63 | **علمي او اداري چارې د منول سیستم څخه بریښنایي سیستم ته بدلولو پراختیا** | بریښنایي زده کړو پراختیا، د معالوماتي ټکنالوژی پر مټ د مؤسسي د شعباتو نښلول، د تدارکاتي سیستم ډیجټلي کول، مالي سیستم | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 5,000 | 5,000 | |
| 64 | **د موسسي ویب سایټ پراختیا** | **که څه هم په اوسنی وخت کې مؤسسه خپل ویبسایټ لری خو د مؤسسې رهبری غواړی لا پرمختللی او په عصری بڼه ویبسایټ ډیزاین او په لاره واچوی ترڅو وکولای شي مینوالو ته د مؤسسې او د مؤسسې د پروګرامونو په هکله غوره او د قیق معلومات وړاندې کړي.** | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | |
| 65 | **د مؤسسي صحي کلنیک پراختیا** | صحي کلنیک د خوني پراختیا، د مسلکي اشخاصو استخدام، د لومړنیو صحي موادو پیرل، د ضروري وسایلو پیرل | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 60,000 | 60,000 | 60,000 | 60,000 | 60,000 | |
| 66 | **امنیتي خوندیتوب** | د ضرورت له مخې د نورو کمرو نصب، د اصطرار حالاتو د ځان د حفاظت سمینارونونه | د مؤسسي ستراتیژیک پلان | | 100,000 | 100,000 | - | - | - | |

## د ستراتېژۍ تطبیق

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه دې ته ژمنه ده ، چې ستراتېژیک پلان پلی اوله پلي کېدا څخه یې ډاډ ترلاسه کړي، د ستراتېژیک پلان د پلي کېدا لپاره اړینه ده ، چې کلنی عملیاتي پلان ترتیب او فعالیتونه ورته په نښه شي.

موږ غواړو ، چې د موخو ترلاسه کولو لپاره لاندې مواردو ته خپله پاملرنه ډېره کړو:

1. د ستراتېژیک پلان د کمېټې له خوا د کلني پلان ترتیبول.
2. د موسسې د کلني پلان اړوند د ټولو ادارو د عملیاتي پلانونو ترتیبول.
3. د ستراتېژیک پلان په رڼا کې د اړونده ادارو کلنیو عملیاتي پلانونو جوړول.
4. د پلانونو او راپورونو له کړنو څخه له اسنادو سره د کره پایلو ترلاسه کول.
5. د ستراتېژیک پلان د کمېټې له لورې د پلان دپلي کېدا پر وخت د ستونزو او خنډونوپه نښه کول، تحلیلول او د حل لپاره یې لازمې لارې لټول.
6. د رهبرۍ په کچه د یو باصلاحیته کمېسیون رامنځته کول څو د ستراتېژیک پلان له پلي کېدا څخه څارنه وکړي.
7. د پلان او پالېسۍ کمېټې لپاره د یو ځانګړي دفتر رامنځته کول

### د استراتېژۍ ارزيابي

د ستراتېژيک پلان له پلي کېدا څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ځينې اړخونو ته بايد پاملرنه وشي تر څو دا جوته شي ، چې د ستراتېژيک پلان اهداف په ښه شکل پلی کېږي او کنه؟

1. د موسسې په داخل کې د اکاډميکو او اداري شوراګانو ارزونه.
2. د تضمين کيفيت کمېټې له لوري استادانو، ادارو، محصلينو او اړونده سکتورونو د نظرياتو پر اساس ارزونې ترسره کول.
3. د لوړو زده کړو وزارت د پروسو له لارې د ارزونکو لخوا ارزونه.
4. د بېلا بېلو ملي او نړيوالو ادارو لخوا ارزونه او اعتبار ترلاسه کول.
5. د پلان له پلي کېدا څخه مخکې حالاتو او وروسته حالاتو مقايسه کول.

## د ستراتیژیک پلان د تدوین پروتوکولونه:

په پورته ډول د التقوی د لوړو زده کړو موسسې ستراتېژیک پلان د پلان او پالیسۍ کمېټې له خوا ((۳/۸/۱۳۹۹) نیټې (۱۴) نمبر پروتوکول کې ثبت او تایید دی.

د ستراتیژیک پلان کمېټې مشر: استاد ننګیالی مصؤن

په پورته ډول التقوی د لوړو زده کړو موسسې ستراتېژیک پلان د موسسې د علمي شورا د ( ۱۳۹۹/۸/۶ ) نېټې غونډې په (۵) نمبر پروتوکول ثبت او تایید شو.

دمؤسسې رییس: خوشحال جواد

## د ستراتیژیک پلان د تعدیل پروتوکولونه:

په پورته ډول د التقوی د لوړو زده کړو موسسې ستراتېژیک پلان د تعدیل طرحه د ستراتیژیک پلان کمېټې له خوا ((۲۲/۹/۱۴۰۲) نیټې (۹) نمبر پروتوکول کې ثبت او تایید دی.

د ستراتیژیک پلان کمېټې منشي: استاد ننګیالی مصؤن د کمېټې مشر: استاد استاد خوشحال

په پورته ډول التقوی د لوړو زده کړو موسسې ستراتېژیک پلان تعدیل طرحه د موسسې د علمي شورا د ( ۱۴۰۲/۹/۳۰ ) نېټې غونډې په (۹) نمبر پروتوکول ثبت او تایید شو.

دمؤسسې رییس: خوشحال جواد